# Griffbereit

Familien entdecken gemeinsam
Spiel und Sprache

Kommunale
Integrationszentren
NRW

ISO 639-1: ps

# د مېندو او پلرونو له پاره مواد[1]

د ۲۰۲۰م کال په مارچ کې دغه متن ته بیا کتنه د آلمان د نارد راین ویستفالن ایالت د ماشومانو، کورنیو، مهاجرو او ادغام چارو وزارت او همداشان د آوریدس بنسټ، چې له محدودو مسولیتونو سره یو غیر انتفاعي شرکت (gGmbH) دی، په مرسته شوې ده.

د دغو موادو اساس د لاندینیو مرجعو په هڅه چې پخوا «د مهاجرو کورنیو له ماشومانو څخه د ملاتړ سیمه ایزې ادارې» یادیدې او اوس «د ادغام محلي مراکز» یادیږي:

- د دېورن د اداري ناحیې، سیمه ایزه اداره (RAA Kreis Düren)
- د آخن د اداري ناحیې، سیمه ایزه اداره (RAA Kreis Aachen)
- د آخن سیمه ایزه اداره (RAA Aachen)
- د ګیلزن کېرشن سیمه ایزه ادراه (RAA Gelsenkirchen)

او همداشان د مېندو او پلرونو ملتیا کوونکو مېرمن ګولتن دوغان، مېرمن زبینه اېنګلمن او مېرمن نادیه پاڅیني د همکارۍ او د فرویدن بېرګ د بنسټ په مرسته چمتو شوي.

چمتو لوبې د «لاس په لاس» نومې هالنډي پروګرام پر بنسټ جوړې شوي دي، چې د روتردام ښار د «ډله ایزو لوبو مؤسسې» پورې اړه نیسي.

---

۱ موږ په دې مجموعه کې له انځورونو سره په هیڅ وجه نه غواړو د کلیشه یي مواردو د بیا تولید موضوع مطرح کړو او یا پرې ټینګار وکړو. هدف دا دی چې زموږ متنوع ټولنه د امکان تر حده انځور شي.

۲ نارد راین ویستفالن ایالت د ټولنیز مشارکت او ادغام څخه د ملاتړ په قانون سره، چې په ۲۰۱۲م کال کې نافذ شوی، د ایالت د ادغام او تعلیم په سیاست کې نوي معیارونه ټاکلي. د دغه قانون ۷ ماده په ناحیو او آزادو ښارونو کې د ادغام د محلي مرکزونو پرمختګ تنظیموي. دا ایالت د ادغام محلي مرکزونو سره د همغږۍ د سرتاسري دفتر (LaKI) له طریقه مرسته کوي. د همغږۍ سرتاسري دفتر د نارد راین ویستفالن ایالت د مهاجرو کورنیو له ماشومانو څخه د ملاتړ سیمه ایزې پخوانۍ ادارې (RAA) له اصلي دفتر او د آرنسبرګ ښار د سیمه ایزې ادارې د ادغام د چارو پوهانو له ځینو برخو جوړ دی.

# فهرست

د مېندو او پلرونو له پاره مواد ..... 2
د مېندو او پلرونو له پاره يادونه..... 6
د چمتو لوبو پروګرام کې د والدېنو د ملتيا کوونکو له پاره سريزه..... 7
۱ د يوه شي په ګوته کول يا ښودل ..... 9
۲ چکچکي کول..... 10
۳ ټالی ورکول..... 11
۴ د شيانو پټ اېښودل..... 12
۵ د کتابونو کتل..... 13
۶ چو چو چو ..... 14
۷ نقاشي کول..... 15
۸ د حيواناتو ليدل..... 16
۹ ډول وهل ..... 17
۱۰ پرانيستل او تړل يا بندول..... 18
۱۱ نڅا کول ..... 19
۱۲ یو سړی په زینه پاس راخيژي ..... 20
۱۳ د نوپر لوبه ..... 21
۱۴ د چای څښلو تمثيل ..... 22
۱۵ دننه اېښودل او دباندي راايستل..... 23
۱۶ له يو او بل تقليد کول ..... 24
۱۷ کتابونه..... 25
۱۸ د لمس کولو لوبه..... 26
۱۹ نقاشي کول..... 27
۲۰ کښتی چلول ..... 28
۲۱ له پوقاني سره لوبې کول ..... 29
۲۲ له حلقو يا کړيو څلی جوړول..... 30
۲۳ د بدن د غړو په هکله سندره..... 31

۲۴ نانځکو او د لوبو حیواناتو سره لوبیدل ........ 32
۲۵ پیاده ګرځیدل یا قدم وهل ........ 33
۲۶ سترګي، غوږونه، پزه او خوله ........ 34
۲۷ له کاغذ سره لوبې ........ 35
۲۸ د کار میز ........ 36
۲۹ د غږونو رامنځ ته کول ........ 37
۳۰ له مکعبونو سره لوبې ........ 38
۳۱ د حیواناتو په هکله معلومات ورکول ........ 39
۳۲ کریم منډه کړه – فرید منډه کړه ........ 40
۳۳ الف د پزل لوبې ټوټې بیلول ........ 41
۳۳ ب د پزل ټوټې بیرته ځای پر ځای کول ........ 42
۳۴ پاپی، پاپی ........ 43
۳۵ سرپټنول یا نښلول ........ 44
۳۶ د کوچنې توپ پو کول ........ 45
۳۷ د سودا اخیستلو تمثیل ........ 46
۳۸ په ګډه د لوبو سامان راټولول ........ 47
۳۹ هُپ، هُپ، هُپ – زما اس ډیر چابک ........ 48
۴۰ د رنګینې مصنوعي ختې سره لوبې ........ 49
۴۱ د اورګاډي لوبه ........ 50
۴۲ په مهرو یا مریو کې تار اچول ........ 51
۴۳ سرکوزدې وهل ........ 52
۴۴ له ګوتو سره لوبې کول ........ 53
۴۵ انځوریز کتابونه ........ 54
۴۶ د اوبو په رنګ نقاشي ........ 55
۴۷ انځور لرونکي لوتو لوبه ........ 56
۴۸ بو وار حس کول ........ 57
۴۹ د کالیو اغوستلو لوبه ........ 58
۵۰ د پلاستیکي ګیلاسونو یو پر بل کیښودل ........ 59

۵۱ د کور په کارونو کې مرسته ... 60
۵۲ یو شی وینم چې ته یې نه وینې ... 61
۵۳ د حافظې غښتلتیا (میموري) ... 62
۵۴ د باندې په شګو کې لوبې کول ... 63
۵۵ د توپ رغړول او نښه نیول ... 64
۵۶ ښه غوږ کېږده او پیدا یې کړه ... 65
۵۷ د کالیو د اغوستلو زده کول ... 66
۵۸ په خپل لاس جوړې شوې پزل ... 67
۵۹ له کتابه کیسه لوستل ... 68
۶۰ د یوې دستکشې یا جورابې په واسطه کیسه کول ... 69
۶۱ کوم شیان له یو بل سره اړه لري؟ ... 70
۶۲ په لېګو یا دوپلو لوبې کول ... 71
۶۳ د بدن غړي ... 72
۶۴ زما کورنی ... 73

# د مېندو او پلرونو له پاره يادونه

خوږو والدېنو،

د «چمتو لوبو» په نوم دې مجموعه کې کولی شئ د وړاندیز شوو لوبو په هکله معلوماتي پاڼې راټولې کړئ. په دغو پاڼو کې دا تشریح کېږي چې لوبې او فعالیتونه څرنګه ستاسو د ماشومانو د خوښۍ سبب ګرځيدی شي او په عین وخت کې د ماشومانو له پاره د زده کړې اړخ هم ولري.

د لوبو پاڼې د دې له پاره په پام کې نیول شوي دي چې یو واری په کور بیا ولیدل شي. دغه پاڼې کولی شي په دې کې مرسته وکړي چې دغه ډول فعالیتونه له خپلو ماشومانو سره په کور کې هم وکړئ.

د لوبو دغه طرحه او لارښووني د کورنۍ له نورو غړو سره هم شریکې کړئ، څو هغوی هم له ماشومانو سره لوبو کولو ته تشویق شي.

که چیرې د لوبو د لارښود په هکله کوم نظر، وړاندیز او یا پوښتنه لرئ، کولای شئ هر وخت د لوبو د ګروپ، له مسولینو سره اړیکه ونیسئ.

هیله من یو چې تاسو او ماشومان مو له دغه لوبو خوند واخلئ!

# د چمتو لوبو پروګرام کې د والدېنو د ملتیا کوونکو له پاره سریزه

له والدېنو سره ګرانو ملتیا کوونکو!

موږ د چمتو لوبو، په دې مجموعه کې چې د والدېنو او ماشوم له پاره په پام کې نیول شوې ده، ۶۴ لوبې راټولې کړې دي. دغه لوبې مېندې یا پلرونه کولای شي له خپلو ماشومانو سره یو ځای وکړي. زموږ سپارښتنه دا ده چې دغه لوبې د نمونې په ډول یو وار په اوونیزو لیدنو کتنو کې له والدېنو سره تر سره کړئ. دغه لوبې باید د خوښۍ وړ او په عین حال کې د ماشومانو د زده کړې له پاره تشویقونکې اوسي.

زیات شمیر لوبې د کم سنه ماشومانو له پاره او ځینې نورې بیا د لږ زیات عمر لرونکو ماشومانو له پاره مناسبې دي. تاسې ګران ملتیا کوونکي د والدینو په مشارکت سره د ماشومانو له پاره یوه مناسبه لوبه غوره کړئ. د لوبې په غوره کولو کې لومړی د ماشوم عمر او بیا د هغه لیوالتیا یا علاقمندي په نظر کې ونیسئ. دغه لوبې د هلکانو او نجونو له پاره یو ډول په پام کې نیول شوي دي.

په لوبو کې د مېندو او پلرونو مهارت او پخوانۍ تجربې باید په پام کې ونیول شي. په لومړي سر کې والدینو ته دا روښانه کړئ چې انتخاب شوې لوبه به د ماشوم په وده کې څه اغیز ولري او د ماشوم د ودې له پاره کوم هدف تعقیبوئ؟ (د مثال په توګه ۴ شمیره لوبه: "د شیانو پټ ایښودل" = په دې لوبه کې د ماشوم حافظه قوي کیږي او نوې کلمې زده کوي).

مهمه مسله، په ګډه له ماشوم سره لوبې او تر هغې وروسته د لوبې د قواعدو رعایت کول دي. مېندې او پلرونه کولای شي په لوبو کې خپل نوښتونه یا نظرونه شریک کړي. تر ټولو لومړی مهمه دا ده چې والدېن له خپلو ماشومانو سره په نظر کې د نیول شوې لوبې په هکله خبرې وکړي. ماشومان هغه وخت کولای شي په آسانۍ ژبه زده کړي چې د ترسره کیدونکي کار په هکله خبرې وکړي. هر څومره چې ماشومان ښې خبرې وکړي، په هماغه اندازه ورته آسانیږي چې له نورو ماشومانو سره نږدې شي.

لطفا لاندیني ټکي مېندو او پلرونو ته په خاص دقت سره روښانه کړئ:

- والدین کولای شي د لوبې په جریان کې ماشومانو ته خپل وړاندیزونه وواییاو پریږدي چې ماشومان خپله تصمیم ونیسي چې څه کول غواړي. د بیلګې په توګه ۴ شمیره لوبه: "د شیانو پټ اینبودل" = «آیا تر دستمال لاندې څو شیان پټ کړم، که یوازې یو؟». د ماشوم له پاره دا ډیره مهمه ده چې وکولای شي خپلې غوښتنې او احساسات بیان کړي.
- مېندې او پلرونه باید په دې وپوهیږي چې ولې له خپل ماشوم سره یوه مشخصه لوبه کول غواړي.
- کله چې ماشوم په لوبه کې برخه اخلي او د یوه کار په کولو بریالي کیږي، نو والدین یې باید وستایي. د والدینو له پاره پیشنهادي پاڼې "د ستاینې" په کلماتو سره پای ته رسیږي. په دې مجموعه کې د ستاینې کلمات یوازې پیشنهادي شکل لري او والدین کولای شي د خپل ماشوم د ستایلو او تشویقولو له پاره له نورو کلماتو کار واخلي.
- هر کله چې ماشومان په خپله لومړنۍ هڅه کې بریالي نه شي، مېندې او پلرونه یې باید وهڅوي.

کله چې تاسي یوه ورځ وروسته بیا له والدینو سره وینئ، له هغوی سره د هغو تجربو په هلکه خبرې وکړئ چې په کور کې د وړاندیز شوو لوبو په ترڅ کې یې له ماشومانو سره ترلاسه کړي دي. هغوی وستایئ او دې ته یې وهڅوئ چې لوبو ته ادامه ورکړي.

همداشان د لوبو په ګروپونو کې د لیدنو کتنو څخه په استفادې سره، د لوبو وسایل، انځوریز کتابونه، د لاسي کار وسایل او داسي نور شیان معرفي کړئ. ډیره مننه!

د «چمتو لوبو د طرحې» له مخې د ګروپي لوبو د اجرا کولو د هر اړخیز لارښود له پاره لطفا «د چمتو لوبو د والدینو ملتیا کوونکو» لاسي کتاب ته مراجعه وکړئ. لاسي کتاب د دغې طرحې ټول معلومات له جزئیاتو سره رانغاړي.

*(یادښت: په دې مجموعه کې هغه جملې چې ماشوم پکې مخاطب ګرځول کیږي او یا هم د تشویق او ستاینې وړ ګرځي، له عامیانه ژبې کار اخیستل شوی دی.)*

د والدینو – ماشوم ګروپ کې د چمتو لوبو د عملي کولو موفقیت مو غواړو!

# ١ د یوه شي په ګوته کول یا ښودل



ماشوم مو څه زده کوي؟

- په دقت سره کتل
- په کلماتو پوهیدل
- بیا وروسته د دغو کلمو په ژبه راوړل

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- خپله شخصي فضا او چاپیریال (د مثال په توګه کور، چم ګاونډ)

**څرنګه کولای شئ لوبي وکړئ؟**

- ماشوم مو یا په غیږ کې ونیسئ او یا یې د زنګونو پر سر کینوئ.
- هماغه لور ته وګورئ چې ماشوم مو ګوري.
- بیا په لاس یو شي ته اشاره وکړئ او ووایي چې څه شی دی؟
- بیا وروسته نورو شیانو لکه څراغ، څوکۍ یا دې ته ورته شیانو ته اشاره وکړئ او نومونه یې واخلئ.
- ماشوم مو وپوښتئ: «څراغ چیرې دی؟ څوکۍ چیرې ده؟...»

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یې وکړئ او ویې ستایي:

- آفرین، ډیر ښه دي وپیژند چې څه شی دی!

# ۲ چکچکې کول



ماشوم مو څه زده کوي؟

- لغتونه
- د حرکتونو تقليد
- ريتم يا د سندرې تال

څه شي ته اړتيا لرئ؟

- د دې لوبې له پاره هيڅ کومو خاصي وسايلو ته اړتيا نه لرئ.

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- يو بل ته مخامخ کينئ، په ګډ غږ سندره ووايي او هم مهاله د سندرې د متن مطابق حرکات تر سره کړئ. مثلاً:

| | |
|---|---|
| دواړه لاسه له يو بل سره ووهئ او ووایاست | چکچک وکړه چکچک وکړه، واه واه واه: |
| په خپل سرلاس ووهئ او ووایاست | اوس پر خپل سر لاس تیر کړه:<br>داسي، داسي، داسي |
| لاسونه مو پورته کړئ او ووایاست | لاسونه مو پورته کړه: |
| خپل لاسونه هاخوا ديخوا يوسئ او ووایاست | اوس دې خوا ته، اوس هغې خوا ته: |
| خپل بدن ته په يوه خوا او بله خوا حرکت ورکړئ | کښتي په ډنډ کي داسي ځي:<br>کښتي په ډنډ کي داسي ځي |

- که کومه بله سندره او يا ترانه مو ياده وي، خپل ماشوم ته يې ووايي او له هغې سره هم مهاله مناسب حرکات تر سره کړئ.

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتيا کوله، يادونه يې وکړئ او ويې ستايي:

- آفرين، لاسونه دې څنګه ښه پورته کول!
- آفرين، تا هم راسره سندره ويله! (په هغه صورت کې چې ماشوم هم له خولې غږ وباسي يا زمزمه وکړي.)

# ۳ ټالی ورکول



ماشوم مو څه زده کوي؟

- په ګډه د يوه کار تر سره کول

څه شي ته اړتيا لرئ؟

- د دې لوبې له پاره هيڅ کومو خاصو وسايلو ته اړتيا نه لرئ.

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- ماشوم خپلې مخې ته پر ځمکه کينوئ.
- د ماشوم شاته ټيټ شئ.
- دواړه لاسه مو د ماشوم تر ورنونو لاندې تير کړئ.
- دواړه لاسه مو د ماشوم د زنګانونو په ساحه کې ټينګ کړئ.
- ماشوم ته مو وواياست چې ټالی ورکوئ او بيا مخې او شا ته ماشوم ته ټالی ورکړئ.
- له دې سره هم مهاله کولی شئ د بېلګې په توګه دا سندره زمزمه کړئ: «ټاټی، ټاټی! زنګوټی!».

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتيا کوله، يادونه يې وکړئ او ويې ستايئ:

- د ټال ورکولو پر مهال له ماشوم سره خبرې وکړئ او وي ستايي.

Kommunale Integrationszentren NRW

ISO 639-1: ps

# ۴ د شیانو پټ ایښودل



ماشوم مو څه زده کوي؟

- د حافظې د تقویت له پاره تمرین
- نوې لغتونه

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- یو دستمال
- داسې شیان چې تر دستمال لاندې پټ شي

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- پریږدئ چې ماشوم مو دستمال او شیان ووینې او لمس یې کړي. ښایي وغواړي چې دغه وسایل په خوله کړي.
- یو شی تر دستمال لاندې کړئ، مثلا یو ګیلاس.
- له ماشوم مو پوښتنه وکړئ: «ګیلاس چیرې دی؟»
- تاسو یا ماشوم مو دستمال څنډې ته کړئ: «دا دی ګیلاس!»
- د یوه بل شي تر دستمال لاندې کولو سره، لوبه تکرار کړئ.
- یو وار مو مخ هم پر دستمال پټ کړئ او بیا دستمال لیرې کړئ او ووایاست «تی!».

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یې وکړئ او ویې ستایې:

- آفرین! څنګه ښه پوهه شوې ګیلاس تر دستمال لاندې وو.

# ۵ د کتابونو کتل



ماشوم مو څه زده کوي؟
- د لغتونو پیژندل
- د انځورونو پیژندل
- له کتابونو سره آشنایي

څه شي ته اړتیا لرئ؟
- هغه کتابونه چي ډبل یا قوي پوښ ولري، یا له پلاستیکه جوړ وي او یا له له توتي چي هره پاڼه کې یې یو یا دوه انځوره وي.

**څرنګه کولای شئ لوبي وکړئ؟**

- ماشوم مو کولای شي د کتاب پاڼي واړوي او هغي ته وګوري.
- هر عکس ورته وښیوئ او د هغه په هکله یو څه ووایاست.
- همداشان د انځورونو په هکله پوښتنه وکړئ، مثلا «پطلون چیري دی؟»، «تا هم یو پطلون اغوستی؟»
- د کم سنه ماشومانو له پاره دا هم ښه کوي چي یوازې انځور ته وګوري.

کله چي مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یې وکړئ او ویې ستایې:
- څه ښه ساعت مو تیر شو چي په ګډه مو انځوریز کتاب وکوت!

# ۶ چو چو چو



ماشوم مو څه زده کوي؟
- په ګډه د یوه کار تر سره کول
- د بدن انډول ساتل

څه شي ته اړتیا لرئ؟
- د دي لوبي له پاره هیڅ خاصي وسیلي ته اړتیا نه لرئ.

**څرنګه کولای شئ لوبي وکړئ؟**

- ماشوم پر خپلو زنګونونو داسي کینوئ چي مخ يې ستاسي لور ته وي.
- په دواړو لاسونو د ماشوم لاسونه ټینګ کړئ.
- ماشوم لومړی په یوه زنګون او بیا وروسته په بل زنګون کښته او پورته کړئ.
- له دي سره هم مهاله د بیلګي په توګه ووایي:

چو چو چو
په اس سپور ځي په میرو
که راولویږي په لوټه
ملا به يې شي بوټه
که ولویږي په غار کي
رااېستل به يې سخت کار شي
که ناڅاپه په اوبو کي شي ګوزار
په اس سپور به جوړ کاندي شرپار!

- کله چي " شړپار" وایاست، نو دواړه زنګونونه مو لږ لیري کړئ او ماشوم کښته لور ته لږ پرېږدئ.
- کله چي "چو چو چو" وایاست، نو زنګونونه مو تر ممکنه حده پورته یوسئ.

کله چي مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه يې وکړئ او ویې ستایي:
- آفرین، په آس څومره ښه سپرلی کولی شي!

# ۷ نقاشي کول



ماشوم مو څه زده کوي؟

- د یوه رنګه پنسل یا رنګي په لاس کي نیول
- د مختلفو کرښو نقاشي او بیا وروسته د دایري رسمول
- له نوښته ډک مشغولیت

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- پیړ رنګه پنسل یا رنګي او یا هم تباشیر
- یو لوی یا کلک کاغذ (کیدای شي استعمال شوي وي) او یا هم د پیاده رو ځمکه

**څرنګه کولای شئ لوبي وکړئ؟**

- د نقاشی له لوازمو سره د میز تر شا کینئ.
- یوه رنګه او کاغذ ماشوم ته ورکړئ.
- وګورئ چي ماشوم پرې څه کوي.
- ماشوم ته مو وښیوئ چي څنګه نقاشي وکړي، د مثال په ډول څو کرښي وکاږئ، څو نقطي کیږدئ.
- تر هغه وخته نقاشي وکړئ چي ماشوم ترې خوند واخلي. (زیاتره وخت یوازې څو دقیقي وخت نیسي).
- له ماشوم سره یو ځای نقاشي له نظره تیره کړئ او ورته ووایي چي څه شی ویني.
- نقاشي پر یوه دیوال وځړوئ او یا یي هم په داسي ځای کي کیږدئ چي ښه د لیدو وړ وي.

کله چي مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یي وکړئ او ویې ستایي:

- څه یو ښایسته آبي رنګه کرښه ده!
- آفرین، څه ښه نقطه رسموې، څومره ښایسته!

# ۸ د حيواناتو ليدل



ماشوم مو څه زده کوي؟
- په چار چاپير کې د حيواناتو پيژندل، چې څنګه ښکاري ؟ څه کوي؟ څه ډول غږ لري؟ څه ډول احساس لري؟
- د حيواناتو او د بدن د غړو نومونه يې

څه شي ته اړتيا لرئ؟
- يو يا څو حيوانات چې وکولای شئ له نزدې يې ووينئ (مثلاً کولای شئ له خپل ماشوم سره باغ وحش ته ولاړ شئ).

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- کولای شئ له خپل ماشوم سره د يوه يا څو حيواناتو ليدلو ته ولاړ شئ، که چيرې حيوان اهلي وي کيدای شي لاس پرې راکاږئ او ناز ورکړئ.
- ماشوم ته مو د حيوان نوم ووایاست.
- د حيوان غږ تقليد کړئ او ماشوم هم د دې کار ترسره کولو ته وهڅوئ.
- که چيرې د حيواناتو په هکله مو کومه ترانه زده وي، خپل ماشوم ته يې ووايې.
- د حيوان سر، لکۍ، پښو، پنجو او بدن ته اشاره وکړئ او تشريح يې کړئ چې دغه حيوان د خپل بدن په غړو کوم کارونه کولای شي (د بېلګې په توګه خوراک، دريدل، ښورول، الوت او يا هم شړل).
- توجه وکړئ چې ماشوم مو له څه سره علاقه ښيي او زيات بيا په هماغه هکله معلومات ورکړئ.

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتيا کوله، يادونه يې وکړئ او ويې ستايې:
- شاباسي، څه آرامه لاس پرې راکاږي! د سپي دغه ډول ناز ورکول خوښيږي.
- آفرين، څنګه ښه د بزې غږ تقليدولی شې: بع بع!

# ۹ ډول و هل



ماشوم مو څه زده کوي؟

- په یوه کوچني لرګي یا قاشق باندې د مختلفو غږونو رامنځ ته کول
- د مختلفو غږونو تشخيص – دا کار د ژبې د زده کړې له پاره ډېر مهم دی.

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- یو کوچنی ډول او یا هم یوه قوطی چې سر یې بند وي او په منځ کې یې لوبیا یا وریجې وي.
- یو کوچنی لرګی او یا د لرګي قاشق

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- په قوطی کې وریجې او یا لوبیا واچوئ او سر یې بند کړئ.
- ماشوم مو کولای شي له هغې سره لوبې وکړي: په لرګي قوطی ووهي، قوطی ورغړوي.
- کولای شئ ماشوم ته وښیوئ چې څرنګه قوطی ته په کراره یا کلکه ضربه ورکړي.
- له دې سره هم مهال د "کلک" او یا "کراره" لغتونه هم تکرار کړئ.
- کولای شئ ماشوم ته دا هم وښیوئ چې څرنګه په لرګي سره ځمکه، میز او یا هم بل شی وهلي شي.
- ماشوم کولای شي هغه غږونه چې اوري، تقلید یې کړي.
- کولای شئ له ماشوم سره یو ځای د ځمکې پر سر طبل ووهئ (که په اپارتمان کې ژوند کوئ، دې ته مو پام وي چې د ګاونډیانو مزاحم نه شئ).

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یې وکړئ او ویې ستایې:

- واه واه! آفرین! څومره ښه دې وکړ!
- څومره ښه کولی شې چې په کراره او کلکه ځمکې ته ګوزار ورکړې!

# ۱۰ پرانيستل او تړل يا بندول



ماشوم مو څه زده کوي؟
- په هدفمنه توګه لاسونو او ګوتو ته حرکت ورکول
- د پرانيستلو او بندولو له پاره بيلابيل امکانات
- خپل فکر په کار اچول
- د "پرانيستلو" او "بندولو" د کلماتو زده کول

څه شي ته اړتيا لرئ؟
- داسي وسايل چې په بيلابيلو ډولونو بند او پرانيستل شي، د بېلګې په توګه د ګوګرد قوطۍ، يوه سرپوښ لرونکي قوطۍ، يوه داسي قوطۍ چې سرپوښ ورسره تړلی وي او دې ته ورته نور ډولونه.

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- د ګوګرد قوطۍ، کارتن يا بله هره وسيله چې سرپوښ ولري، د ماشوم په لاس کې ورکړئ، څو هغه له نژدې ووينې.
- ماشوم ته مو وښيوئ چې دغه هره وسيله څه ډول پرانيستل کيږي او بيا بنديږي يا يې سر تړل کيږي.
- هر وارې په وضاحت سره ووايإست چې "پرانيستل" او "تړل".
- د ماشوم لاس مو ونيسئ او په ګډه د قوطۍ سر پرانيزئ او بيا يې وتړئ؟
- کله چې مو ماشوم دا کار زده کړ، پخپله ليوالتيا پيدا کوي چې دغه کار تکرار کړي.

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتيا کوله، يادونه يې وکړئ او ويې ستايي:
- ډير ښه، داسي کولای شي چې د قوطۍ سره پرانيزي.
- د قوطۍ سر څومره ښه بيرته بندولی شي!

# ۱۱ نڅا کول



ماشوم مو څه زده کوي؟

- غوږ نیول
- ریتم
- له موسیقی سره خپل بدن ته حرکت ورکول

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- موسیقي


**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- موسیقي چالانه کړئ او یا پخپله سندره ووایاست.
- ماشوم مو په غیږ کې واخلئ او یا یې له دواړو لاسونو ونیسئ.
- له ماشوم سره یو ځای نڅای وکړئ.

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یې وکړئ او ویې ستایي:

- موږ دواړه څه ښه نڅا کوو!

# ۱۲ يو سړی په زينه پاس راخيژي



ماشوم مو څه زده کوي؟

- په ګډه د يوه کار تر سره کول

څه شي ته اړتيا لرئ؟

- د دي لوبې له پاره کومې خاصې وسيلې ته اړتيا نه لرئ.

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- ماشوم مو د خپلو زنګونو پر سر داسې کينوئ، چې مخ يې ستاسې لور ته وي.
- د خپل لاس د دوو ګوتو په واسطه د مټ د پاسه تر غاړې يې ولاړ شئ او هم مهاله دا کلمې تکرار کړئ:

| |
|---|
| يو سړی د زينې له لارې پاس راخيژي: راغی، راغی، راغی، ... |

- د غوږ پوڅقې يې ونښورئ (ګنې د دروازې د زنګ تکمه کيباسئ) او وواياست:

| |
|---|
| ډينګ ډانګ |

- د لاس په ګوته يې په کراره په تندي يې ووهئ او وواياست:

| |
|---|
| ټک ټک ټک (ګنې دروازه ټک ټک کوئ) |

- په کراره يې د پوزې سر ونښورئ او وواياست:

| |
|---|
| سلام اوړد پزيه! |

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتيا کوله، يادونه يې وکړئ او وې ستايې:

- شاباسې، څومره ښه دغه کيسه کولی شې!
- ګوتې دې څومره ښې لوبې کولای شي!

# ۱۳ د نوپر لوبه



ماشوم مو څه زده کوي؟

- متیو او لاسونو ته د حرکت ورکولو تمرین
- د جوړلو پر مهال د مرتبطو دانو یا مهرو پیژندل
- د سترګو او لاسونو همغږي

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- د نوپر لوبي وسایل

**څرنګه کولای شئ لوبي وکړئ؟**

- لومړی مو ماشوم پریږدئ چي د لوبي داني لمس کړي او آزادي لوبي ورسره وکړي. په عین کي وخت کي هغه ته ډیره توجه وښیوئ.
- ماشوم ته مو وښیوئ چي داني څرنګه له یو بل سره وصل کیږي.
- وصل شوي داني د یو بل پر سر کیږدئ چي ماشوم مو پري پوهه شي چي دا داني له یو او بل سره نښتي دي.
- همدا کار مو تکرار کړئ، ښایي ماشوم مو هم له تاسو تقلید وکړئ.
- هغي دانه چي مو په فشار سره یو بل سره نښلولي، بیا له یو او بل جلا کړئ
- چي ماشوم په ښه توګه هغه وپیژني.
- دې ته پاملرنه وکړئ چي آیا ماشوم مو هم غواړي چي وصل شوي داني له یو بل بېلي کړي.

کله چي مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یي وکړئ او ویي ستایي:

- هو، لږ یي نور هم قوي راکاږه، داني له یو بل بیلیږي!
- آفرین، څومره ښایسته یي جوړولی شي!

# ۱۴ د چای څښلو تمثیل



ماشوم مو څه زده کوي؟

- تمثیل او ښودل
- په ګډه لوبې او خبرې کول

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- پیاله یا ګیلاس
- د چای قاشق
- وړوکی چاینک (تش)

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- له ماشوم سره مو په ګډه پیاله، قاشق او چاینک له نظره تیر کړئ او د دې شیانو په هکله مو له ماشوم سره خبرې وکړئ.
- داسې وښېوئ چې ګواکې په پیاله کې چای اچوئ او هغه څښئ.
- اوس داسې وښیوئ چې ګواکې بیا هم په پیاله کې چای اچوئ او دا وار مو پیاله ماشوم ته ورکړئ او وواياست: «وګوره، یو پیاله چای! ته هم چای څښې؟»
- له ماشوم مو وغواړئ چې تاسو ته یوه پیاله چاي واچوي، او داسې وښيوئ چې ګنې تاسو هغه چای څښئ.

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یې وکړئ او ویې ستایې:

- څه خوندر چای دې راکړ! یوه بله پیاله هم راکړه.
- په پیاله کې څومره ښه چای اچولی شې! دا پیاله چای چا له ورکوې؟

# ۱۵ دننه ایښودل او دباندې راایستل



ماشوم مو څه زده کوي؟

- د خپل فکر وده
- د "دننه" او "دباندې" له کلماتو سره آشنايي

څه شي ته اړتيا لرئ؟

- يو کارتن چې د ګيلاسونو، قاشقو، او خالي قوطيو په شان وسايل په کې وي

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- له خپل ماشوم سره په ګډه ټولو شيانو ته نظر واچوئ او پرېږدئ چې ماشوم مو ورسره هر څومره لوبې چې کوي، وېې کړي.
- اوس قاشقې په ګيلاس کې کېږدئ او ګيلاس بيا د قوطۍ دننه کېږدئ.
- له دې سره هم مهاله مو ماشوم ته په څرګند ډول ووايې: «وګوره، ما قاشقې د ګيلاس دننه کېښودې او ګيلاس مې د قوطۍ دننه کېښود!»
- له ماشوم مو وغواړئ چې يوه قوطۍ د کارتن دننه کېږدي. د اړتيا په صورت کې له هغه سره مرسته وکړئ.
- اوس ټول شيان بيا دباندې راوباسئ او په څرګند ډول ووایاست: «زه اوس ټول شيان بيا دباندې راوباسم.»
- اوس له خپل ماشوم سره په ګډه په نوبت سره شيان د کارتن دننه کېږدئ او بيا يې وروسته بيا دب**اندې** راوباسئ.

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتيا کوله، يادونه يې وکړئ او وېې ستايئ:

- آفرين، ته ګيلاس ښه ټينګ نيولی شې! اوس يې بېرته په کارتن کې دننه کېږده.
لطفاً قاشقه له ګيلاسه راوباسه. ته دا کار ډېر ښه کولی شې!

# ۱۶ له يو او بل تقليد کول



ماشوم مو څه زده کوي؟

- په دقت سره څارل
- له يوه کس څخه تقليد کول

څه شي ته اړتيا لرئ؟

- د دې لوبې له پاره هيڅ ډول وسايلو ته اړتيا نه لرئ.

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- خپل لاس مو د ماشوم لور ته وښوروئ او له هغه پوښتنه وکړئ: «زما په شان کار کولی شي؟»، «ته دې هم يو وار لاسونه وښوروه.»
- دلاسونو له ښورولو وروسته، نور حرکتونه هم وکړئ او له خپل ماشوم څخه غوښتنه وکړئ چې دغه حرکتونه هم تقليد کړي.
- ماشوم ته مو توجه وکړئ او بيا وروسته د هغې د حرکاتو تقليد وکړئ.
- کيسې يا سندره ووايې چې په هغې کې حرکتونه تمثيل شوي وي. مثلاً:

> د نانځکو د خرڅلاو دوکان مې وليد
> چې پرتې پکې نانځکې رنګارنګ وي
> يوه ورځ دوکاندار ولاړه په سفر
> نانځکو به کول کارونه په خپل سر
> (د مثال په ډول چکچکې وکړئ) او ووايāست: يوې به داسې چکچکې کولې
> (خپلې اوږې وښوروئ) او ووايāست: يوې به داسې اوږې ښورولې
> (د لاسونو په ورغوو مو ورون ووهئ) او ووايāست: يوې داسې طبله وهله

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتيا کوله، يادونه يې وکړئ او ويې ستايې:

- شاباسې، څومره ښه تقليد کولی شې!
- لاسونه دې څومره ښايسته ښوروې/ چکچکې کوې/ طبله وهې!

# ۱۷ کتابونه



ماشوم مو څه زده کوي؟

- انځورونو او کتابونو ته نظر اچول
- کیسو ته غوږ ایښودل
- د ژبې زده کول

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- د کالیو په هکله یو انځوریز کتاب

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- ماشوم مو په خپله غیږ یا تر څنګ ته کینوئ.
- پریږدئ چې ماشوم مو د کتاب انځورونه ووینې.
- د انځورونو په هکله هغه ته ووایاست. یوه پوره کیسه جوړه کړئ، یوازې د کالیو نومونه اخیستل بسنه نه کوي.
- هغه کالي چې په انځورونو کې لیدل کیږي، ورته اشاره وکړئ او له ماشوم مو وپوښتئ: «ستا کمیس چیرې دی؟»
- پریږدئ چې ماشوم مو پخپله د کتاب پاڼې واړوي.
- کله چې ماشوم د یوه شي نوم له تاسو تقلید کړ خو ناسم یې ووایه، هغه ټکی په یوه بشپړه جمله کې تکرار کړئ. د بیلګې په توګه ماشوم مو د «جاکټ» پر ځای «کټ» ووایي، نو تاسو هغه ووایاست «هوو دا جاکټ دی!»

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یې وکړئ او ویې ستایئ:

- شاباسي، څومره ښه کتاب ته ګورې!
- څومره ښه کولای شي چې یوازې د کتاب پاڼې واړوې!

# ۱۸ د لمس کولو لوبه



ماشوم مو څه زده کوي؟

- په لاس لمس کول

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- له مختلفو موادو جوړ وسایل لکه، وړی، پلاستیک، لرگی، ښیښه (ډبله) او یا هم فلز.

**څرنگه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- مختلف وسایل لکه یو شال چې له وړیو جوړ وي، د لوبې یو شی، یوه پلاستیکي قوطی، یوه کوچنۍ قاشق، د شېدو یو بوتل او یا نور شیان څنگ تر څنگ کیږدئ.
- تاسو او ماشوم مو دغه شیان په لاسونو او مخ لمس کړئ.
- هر شی چې رااخلئ په هکله یې ماشوم سره خبرې وکړئ او ووایې چې دغه وسیله څنگه احساسیږي:
- کلکه یا نرمه، هواره یا زیږه، توده یا سړه، په زړه پورې او که نه.

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یې وکړئ او ویې ستایې:

- آفرین، ته یې په خپله پزه حس کولی شې!
- هو، دا یخ دی، سم پوه شوې!

# ۱۹ نقاشي کول



ماشوم مو څه زده کوي؟

- د لاسونو د حرکاتو تمرين
- د لاسونو او سترګو همغږي
- د خپل تخيل د پياده کولو له پاره نوښت او خلاقيت

څه شي ته اړتيا لرئ؟

- د هوارولو له پاره يو پلاستيک (مثلاً يوه پلاستيکي کڅوړه)
- د نقاشۍ له پاره د اخبار يوه پاڼه يا يو بل کاغذ
- د نقاشۍ يو برس چي لنډ لاستی ولري
- رنګ، چي په اوبو کي حل شوی وي (داسي يو لوښی چي ژور نه وي)
- يوه لويه پلاستيکي کڅوړه او يوه قيچي

**څرنګه کولای شئ لوبي وکړئ؟**

- پلاستيک پر ميز هوار کړئ او ماشوم ته مو تشريح کړئ چي څه شی کول غواړئ.
- په لويه پلاستيکي کڅوړه يا خلته کي په قيچي دري سوري وکړئ (د سر او دوو لاسونو له پاره)، داسي چي ماشوم مو وکولای شي هغه د "پيش بند" په توګه واغوندي.
- د اخبار کاغذ يا بله پاڼه، رنګ او د نقاشۍ برس چمتو کړئ.
- برس په رنګ کي ننباسئ او د کاغذ پر مخ ډبله يا نرۍ کرښه راکاږئ.
- برس مو د ماشوم په لاس کي ورکړئ. د رنګ په لوښي کي د برس داخلولو له پاره له هغه سره مرسته وکړئ (د اړتيا په صورت). پرېږدئ چي هغه پخپله هم د نقاشۍ هڅه وکړي.

کله چي مو ماشوم په ښه شان ملتيا کوله، يادونه يې وکړئ او ويې ستايي:

- واه واه! څه ښه سره کرښه دي وکښله!

# ۲۰ کښتۍ چلول



ماشوم مو څه زده کوي؟

- لغتونه
- په ګډه لوبې کول

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- د دې لوبې له پاره هیڅ وسیلې ته اړتیا نه لرئ.

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- ماشوم ځان ته مخامخ داسې پر ځمکه کېنوئ چې مخ یې ستاسې لور ته وي.
- دواړه لاسونه یې ونیسئ.
- داسې وښیوئ چې ګواکې په یوه کښتۍ کې ناست یاستې او د کښتۍ پارو وهئ: د ماشوم دواړه لاسه خپل لور ته راکش کړئ او ځان د شا پر لور کوږ کړئ، بیا لاسونه د مخ پر لور بوځئ او ځان مخې ته ټیټ کړئ.
- کله ناکله مو سرعت زیات او کم کړئ او کله یوازې یو لور ته پارو ووهئ.
- د لوبې پر وخت له یو او بل سره خبرې وکړئ او سندرې ووایې.

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یې وکړئ او ویې ستایې:

- آفرین، ځومره ښه پارو وهې!

ISO 639-1: ps

# ۲۱ له پوقانې سره لوبې کول



ماشوم مو څه زده کوي؟

- هغه له يوې وسيلې سره د لوبې کولو مختلف امکانات مومي.
- ښه تحرک

څه شي ته اړتيا لرئ؟

- يوه يا څو پوقانې
- د اړتيا په صورت کې يوه تسمه

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- پوقانه وپړوسئ او پريږدئ چې په شپيلاق وهلو سره تري بېرته هوا ووځي.
- پوقانه وپړوسئ او بيا يې پريږدئ چې کړه وړه والوځي.
- پوقانه وپړوسئ (خو دومره زياته نه چې وچوي) او بيا يې سر غوټه کړئ.
- پر يږدئ چې ماشوم مو هغه لمس کړي، بوی يې کړي، ضربه پرې وارده کړي، لاس کې يې ونيسي، پښې يې ونيسي. تل مو ماشوم ته هغه څه وايې چې تر سره کوي يې.
- اوس کولای شئ له ماشوم سره مو په پوقانه لوبې وکړئ، په داسې ډول چې پوقانه په لاس باندې د ماشوم لور ته ووهئ.

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتيا کوله، يادونه يې وکړئ او ويې ستايې:

- شاباسې، پوقانه څومره پورته غورځولی شې!
- څومره ښه کولای شې پوقانه ونيسې!

# ۲۲ له حلقو یا کړیو څلی جوړول



ماشوم مو څه زده کوي؟

- د خپلو لاسونو کنترول
- د حلقو د مختلفو اندازو او رنګونو تشخیص
- د لاسونو او سترګو همغږي، د کار د ترسره کولو او لیدلو تمرین

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- له حلقو جوړ شوی یو هرم یا څلی (له مختلفو حلقو سره یوه میله او د لوبو وسایل)

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- هرم/څلی ماشوم ته ورکړئ، څومره چې یې زړه غواړي ورسره لوبې وکړي.
- ماشوم ته مو وښیوئ چې حلقې یا کړی څرنګه په میله باندې یو د بل د پاسه کېښودل کیږي (په لومړي سر کې د حلقو سم ترتیب مهم نه دی)
- له ماشوم سره مو دا وازمویئ چې حلقې څنګه یو د بل دپاسه کېښودل کیږي او یا یې بوازې ورغړوئ.
- د لوبو په جریان کې ماشوم ته ووایئ چې څه شی کوئ.

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یې وکړئ او ویې ستایئ:

- واه واه، ته کولای شې حلقه د سر د پاسه هم کیږدې!
- څومره ښایسته هرم دې جوړ کړ!
- څومره ښه کولی شې چې حلقه ورغړوې!

# ۲۳ د بدن د غړو په هکله سندره



ماشوم مو څه زده کوي؟

- د بدن د مختلفو غړو نومونه
- له موسیقۍ سره بدن ته حرکت ورکول

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- یوه سندره

**څرنګه کولای شئ لوبي وکړئ؟**

- یو او بل ته مخامخ کینئ.
- په ګډه یوه سندره ووایي، مثلا "سترګي مي ورکي کړي دي"، او یا یو شعر چي مو په یاد وي، وي وایي او د هغي سره سم خپل ځان ته حرکت ورکړئ.

مثلاً:

مخ دي ګل، سترګي ګلونه
خوله دي ګل، خندا دي ګل
غاښ دي ګل، شونډي ګلونه
اوربل دي ګل، زلفي ګلونه
قد دي ګل، ملا دي ګلونه
...

کله چي مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یي وکړئ او ویي ستایي:

- څه ښایسته سندره وایي! آفرین، لر ځان وښوروه!
- د بدن د غړو نومونه دي څومره ښه زده کړي دي!

# ۲۴ نانځکو او د لوبو حیواناتو سره لوبیدل



ماشوم مو څه زده کوي؟

- د داسي کارونو تمثیل چي د ماشوم ذهن مشغولوي
- ځان د نورو په نقش کي لوبول، له لوبي سره بل ډول چلن ازمویل
- د ژبي زده کړه (د لغتونو او جملو جوړول)
- یوازي د نجونو له پاره نه، بلکي د هلکانو له پاره هم مهم دی

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- بیلابیلي نانځکي (ښځینه او نارینه)، د لوبي حیوانات
- یو کوچنی بیشقاب او د چای خوری قاشق (د کور عادي وسایل)
- د پاک کاری له پاره یو دستمال، یو دستپاک او د لوښو پریمنځلو یوه دستکشه

**څرنګه کولای شئ لوبي وکړئ؟**

- لومړی کولای شئ ماشوم مو پریږدئ چي له نانځکو او د لوبو د نورو کوچنیو حیواناتو سره یوازي لوبي وکړي.
- کله چي مو ماشوم وغواړي یوازي لوبي وکړي، کار پري مه لرئ.
هر کله چي مو ماشوم نه پوهیده چي له نانځکو او د لوبو له نورو شیانو سره څرنګه لوبي وکړي، هغه ته یوه ډول لوبه وړاندیز کړئ، مثلا «نانځکه دي اوږي شوي نه ده؟». کوچنی بیشقاب او قاشق راواخلئ او داسي وښیوئ چي ګني نانځکی ته ډوډی ورکوئ.
- ماشوم ته مو وښیوئ چي نانځکه څرنګه په سیزني کي وتړل شي، څنګه ورته کالي واغوستل شي او څنګه تري کالي واایستل شي.
- په هغه صورت کي چي په ګډه لوبي کوئ، د هر تر سره کیدونکي کار په هکله خبري وکړئ.

کله چي مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یي وکړئ او ویې ستایي:

- ته دي نانځکی ته خوندوره ډوډی ورکوي؟
- داسي ښکاري چي خپله نانځکه درته ډیره ګرانه ده.
- په خپلي نانځکي دي څه نوم ایښی دی؟
- څه ښایسته نوم دی!

# ۲۵ پياده ګرځيدل يا قدم وهل



ماشوم مو څه زده کوي؟

- د تګ پر مهال د يوه جهت يا اړخ ساتل
- د لاري په اوږدو کي د ليدونکو شيانو په هکله لغتونه او جملي

څه شي ته اړتيا لرئ؟

- د دي لوبي له پاره هيڅ کومي خاص وسيلي ته اړتيا نه لرئ.

**څرنګه کولای شئ لوبي وکړئ؟**

- په ګډه د ګرځيدو له پاره د باندي ولاړ شئ او يا هم د کور دننه قدم ووهئ.
- پام وکړئ چي ماشوم مو څه شي ته ګوري، د هماغه شي په هکله معلومات ورکړئ:


«دا دباندي دی. يو ځل دباندي وګورو؟ څه شی ويني، يوه ونه او يو سپی؟ سپی پر لار ځي. ويني يي، هغه يوه لکۍ لري؟ او خپله لکی ښوروي. د څه شي غږ اوري، د موټر غږ؟ وګوره څومره يو غټ موټر دی.»

- کله چي مو له ماشوم سره په هغه ژبه خبري کوئ چي تاسو پري ډير تسلط لري، نو ماشوم مو ښي خبري کول زده کوي.

کله چي مو ماشوم په ښه شان ملتيا کوله، يادونه يي وکړئ او ويي ستايي:

- آفرين، څومره ليري تللی شي!
- ما سره څومره ښي خبري کولی شي!

# ۲۶ سترګې، غوږونه، پزه او خوله



ماشوم مو څه زده کوي؟

- د مخ د غړو نوم
- که چیرې له کتابه استفاده کوئ، ماشوم مو له کتاب سره عادت کیږي:
  هغه شیان چې په کتاب کې لیدل کیږي، په واقعیت کې هم موجود دي.

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- په اصل کې د دې لوبې له پاره کومې ځانګړې وسیلې ته اړتیا نه شته، خو تاسو کولای شئ له یوه کتاب، یا انځور او یا هم له نانځکې څخه د اضافي وسیلې په توګه استفاده وکړئ.

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- د بدن له هماغه غړي پیل وکړئ چې ماشوم مو احتمالا له مخکې پیژني او دا ورته تشریح کړئ چې د بدن دغه غړی کوم کارونه تر سره کولی شي: «په خوله څه کولی شم؟ ډوډۍ خوړل که خبرې کول.»
- غوږ ته مو اشاره وکړې او وواياست: «دا زما غوږ دی. ته هم غوږ لرې.» بیا د ماشوم غوږ ته په اشارې کولو سره ووایې: «دا ستا غوږ دی، چې پرې اوریدل کولی شې.»
- دا کار تکرار کړئ او له ماشوم مو وغواړئ ستاسو غوږ دروښيې. ښايي ماشوم مو د «غوږ» کلمه هم ووايي.
- سترګو، پزې او خولې ته اشاره وکړئ او په هغه صورت کې چې دغه لوبه مو د ماشوم خوښه شوي وي اننګو یا باړخو او زنې ته مو هم اشاره وکړئ.
- د مخ غړي کیدی شي د یوه انځور او یا یوې نانځکې په واسطه هم وښودل شي.

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یې وکړئ او ویې ستایې:

- هو، سمه ده، دا یو غوږ دی. (آن که ماشوم هم سم تلفظ هم و نه شي کړی، خو هغه هم مهاله ستاسې له خولې سم تلفظ اوري.)

# ۲۷ له کاغذ سره لوبې



ماشوم مو څه زده کوي؟

- هغه دا درک کوي چې کاغذ څه ډول احساسيږي، او له کاغذه څه شی جوړيدی شي.
- هغه دا زده کوي چې له خپلو لاسونو په هدفمنه توګه استفاده وکړي.
- د مختلفو غږونو تشخيص زده کوي – دا کار د ژبې د زده کړې له پاره ګټور دی.
- شکلونه، اندازې، ...

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- د مثال په ډول: يوه تشه کاغذي کڅوړه يا خلته، د خط يو استعمال شوی پاکټ، د اعلانونو يا اخبارونو پاڼې، يوه سپينه پاڼه.

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- کاغذ مو خپل ماشوم ته په لاس کې ورکړئ څو هغه لمس کړي، له نظره يې تير کړي او پوهه شي چې په دې سره څه کولی شي.
- ورته ووايې چې په کاغذ څه کوي.
- ماشوم ته مو وښيوئ چې سرې له کاغذه نور څنګه کار اخيستی شي، د بيلګې په توګه کاغذ لوله کړئ او ورته وښيوئ چې سرې په کې خبرې کولی شي او يا يې له منځه يو شی تيرولی شي. يا له کاغذ څخه د خش خش د غږ د رامنځ ته کيدو، قات قات کيدو، نقاشۍ او يا نورو کارونو له پاره کار اخيستل کيدای شي.
- کاغذ په لاس کلوله کړئ او ويې رغړوئ.

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتيا کوله، يادونه يې وکړئ او ويې ستايې:

- يو ځل بيا يې وازمويه!
- له کاغذه څومره ډير غږونه ايستلی شي!
- شاباسي، ډير ښه فکر دې کړی دی – داسې هم کيږي!

# ۲۸ د کار میز



ماشوم مو څه زده کوي؟

- په مټو، لاسونو او ګوتو هدفمن حرکتونه
- د سترګو او لاسونو همغږي، لیدل او د کار تر سره کول
- د لغتونو د ذخیرې پراخول
- له شیانو سره آشنایي
- نجوني او هلکان یې یو ډول زده کوي

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- یو کاري میز له ابزارو سره (د لوبو کاري میز)

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- د کار میز او لاسي ابزار مو ماشوم ته ورکړئ (د امکان په صورت کې ماشوم ته په جلا ډول هره آله ورکړئ او نوم یې واخلئ) څو ماشوم په هغې لوبې وکولای شي.
- دې ته پام وکړئ چې د هرې آلې او مادې تر منځ ارتباط موجود وي او په هکله یې وضاحت ورکړئ.
- ماشوم ته مو وښیوئ چې له ابزارو څه ډول کار اخیستلی شو، د مثال په ډول په څټکي کولی شو مېخ ټک وهو.

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یې وکړئ او ویې ستایې:

- ډیر ښه میخ ټک وهلی شې!
- یو ځل کلک یې ووهه: بوم! یو ځل یې په کرار ووه: ټک ټک! آفرین!
- ډیر ښه یې کولی شې!

# ۲۹ د غږونو رامنځ ته کول



ماشوم مو څه زده کوي؟

- په خوله د حرکتونو ترسره کول: دا کار د ماشومانو د خبرو کولو له پاره ښه دی
- غږونو او لغتونو ته غوږ نیول، دا کار د ژبې د زده کړې له پاره ښه دی
- ښه دقت کول او له نورو تقلید
- د ماشوم درک یا پوهېدنه تقویه کېږي

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- د دې لوبې له پاره کومې خاصې وسیلې ته اړتیا نه شته

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- ماشوم مو خپل مخ ته کېنوئ.
- شونډې مو وچیږوئ او د ماشوم په لور پوه وکړئ – دې ته توجه وکړئ چې آیا ماشوم هم ستاسو تقلید کوي که نه.
- د داسې یوه حیوان نوم واخلئ چې ستاسو ماشوم يې پېژني. د هغه حیوان غږ تقلید کړئ. صبر وکړئ چې ماشوم مو هم دغه غږ تقلیدوي که نه.
- بیلابیلو شیانو ته اشاره وکړئ، مثلا یوه موټر ته، ساعت ته، یوه شپیلاق وهونکي چای جوش ته او د هغې غږونه تقلید کړئ. یقینا ماشوم به مو هم دغه غږونه تقلید کړي.
- له لږ ورانديې فاصلې څخه د کاغذ له یوې لولې څخه غږ وکړئ.

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه يې وکړئ او ویې ستایئ:

- حتی ته کولی شې د موټر غږ وباسې!
- «سسسسسسسسسس»، هو د مار غږ دی.

# ۳۰ له مکعبونو سره لوبې



ماشوم مو څه زده کوي؟

- د مټو او لاسونو هدفمن حرکتونه
- د ستاتیک لومړی درک یا پوهه (ساکن شیان یو د بل د پاسه ایښودل او جوړول)
- د تخیل یا فکري قوي وده
- د سترګو او لاسونو همغږي کول
- د مختلفو رنګونو نومونه

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- پلاستیکي یا لرګین مکعبونه او یا مکعب شکله قوطۍ

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- مکعبونه یا قوطۍ ګانې خپل ماشوم ته ورکړئ او پرېږدئ څومره چې لوبې کول غواړي لوبې وکړي.
- د ماشوم لوبې تر نظر لاندې ساتئ او د هغه کار په هکله ورسره خبرې کوئ چې تر سره کوئ یې.
- ماشوم ته مو دا وښیوئ چې د مکعبونو یا قوطۍ ګانو د سر پر سر ایښودلو سره سرې څنګه برج جوړولی شي.
- له ماشوم سره مو برج ونړوی او له سره یې بیا جوړ کړئ.
- مکعبونه د یو بل تر شا کېږدئ او اورګاډی جوړ کړئ. ماشوم مو کولای شئ مکعبونو ته په حرکت ورکولو سره اورګاډي ته حرکت ورکړي.
- مکعبونه د رنګ د ترتیب له مخې څنګ په څنګ یا د یو بل تر شا کېږدئ.

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یې وکړئ او ویې ستایې:

- اوه اوه، څومره لوړ برج دې جوړ کړ!
- د اورګاډي له پاره دې څه ښه رنګ غوره کړی دی!

# ۳۱ د حیواناتو په هکله معلومات ورکول



ماشوم مو څه زده کوي؟
- د بیلابیلو حیواناتو پیژندل
- په دقت سره غوږ نیول
- د انځورونو لیدل
- له کتاب سره آشنایي

څه شي ته اړتیا لرئ؟
- د حیواناتو په هکله یو انځوریز کتاب
- له ټوټي جوړ د لوبو حیوانات

**څرنګه کولای شئ لوبی وکړئ؟**

- کتاب د ماشوم په لاس کي ورکړي، څو ټینګ یي ونیسي او هغي ته وګوري.
- کولای شئ یوه حیوان ته اشاره وکړئ او وایي چي څه خاص په کي ویني.
- له ماشوم څخه مو پوښتنه وکړئ: «غوا چیري ده؟ راته ویي ښایه. آفرین! اوس ووایه اس چیري دی؟»
- تاسو کولای شئ د یوه حیوان غږ تقلید کړئ او له ماشوم څخه مو پوښتنه وکړئ: «غوا څنګه غږ لري؟ اس څنګه غږ باسي؟».
- که چیري مو ماشوم دوه یا دري کلن دی، بیا کولای شئ د حیوان د ځانګړتیاوو په هکله ورته معلومات ورکړئ: «یو خر ډیر قوی دی او ښه بار وړلی شي. یوه پیشکه وړه ده او نرم ویښتان لري.»
- کله چي مو ماشوم یو لغت سم تلفظ نه کړي، کولای شئ هغه کلمه په یوه بشپړه جمله کي تکرار کړئ.
- د بیلګي په توګه که ماشوم ووایي چي "شک" تاسو ووایي «هو، هلته یوه توره پیشکه پر لاره روانه ده». لطفاً د ماشوم غلطي مو په مستقیم ډول تصحیح نه کړئ.

کله چي مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یي وکړئ او ویي ستایي:
- بلي، دا یو سپی دی، دا دي سم وښوده.
- ته څومره ښه کولی شي د حیواناتو غږ تقلید کړي!

Kommunale Integrationszentren NRW

ISO 639-1: ps

# ۳۲ کریم منډه کړه – فرید منډه کړه



ماشوم مو څه زده کوي؟

- لغتونه، سندره او نظم یا د ژبې ریتم
- د یوه شي لټون چې ورک شوی دی: دا کار د لورموندني حس پیاوړی کوي

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- یو توش قلم یا رنګه چې سر یې لوند شوی وي

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- د دواړو لاسونو د یوې یوې ګوتې پر نوک باندې د دوو انسانانو مخ رسم کړئ.
- دغه مخونه مو ماشوم ته وښیوئ او ورته ووایې چې «دغه دواړه» کریم او فرید نومیږي او دواړه څغاستلی هم شي. «ښه غوږ کیده!»

| | |
|---|---|
| کریم او فرید (ګوتې) پر میز کیږدئ او ووایې : | یوه ورځ د غره پر سر دوه کسه په منډه وو، لکه چې وینې یې |
| یوه ګوته راپوره کړئ او ووایې: | د یوه نوم کریم وو |
| د بل لاس ګوته مو راپورته کړئ او ووایې: | د دوهم نوم فرید وو |
| اوس کریم خپل شا ته پټ کړئ او ووایې: | کریمه منډه کړه! |
| فرید هم شاته پټ کړئ او ووایې: | فریده منډه کړه! |
| بیا مو ګوته پورته کړئ او ووایې: | بیرته راشه کریمه! |
| دوهمه ګوته مو پورته کړئ او ووایې: | بیرته راشه فریده! |

- دغه لوبه تکرار کړئ. کله چې مو "کریم" او "فرید" شاته پټ ونیول، له ماشوم مو پوښتنه وکړئ: «کریم چیرې دی؟ فرید چیرې دی؟»

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یې وکړئ او ویې ستایې:

- آفرین! ستا ډېر ښه پام وو، او پوهه شوې چې کریم او فرید زما تر شا وو.

# ۳۳ الف د پزل لوبې ټوټې بيلول



ماشوم مو څه زده کوي؟

- په غټه او د شهادت يا اشارې په ګوته د يوه شي نيول
- د سترګو او لاسونو همغږي
- د لاسونو کنټرول
- انځورونه په دقت سره ليدل

څه شي ته اړتيا لرئ؟

- يو پزل چې ټوټې يې د تکمې په شان دستګير لري

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- لومړی پرېږدئ چې ماشوم مو له پزل (انځور لرونکي ټوټې چې سره يو ځای کيږي) سره آزادې لوبې وکړي.
- څو شيبې وروسته کولای شئ د پزل هرې ټوټې ته اشاره وکړئ او په هکله يې څه ووايې.
- کولای شئ له ماشومه مو وغواړئ چې هره ټوټه درته وښيې.
- ماشوم ته مو وښيوئ چې څنګه کولای شئ ټوټې د پزل لوبې له تختې/کاغذ څخه بېلې کړي.
- معمولاً ماشوم مو پخپله دغه کار له تاسو تقليدوي، خو که يې ونه کړ کولای شئ له هغه وغواړئ چې هغه هم د پزل ټوټې بېلې کړي.
- تاسو کولای شئ د پزل دوه ټوټې سره ووهئ او يو ډول غږ لرونکي لوبه رامنځ ته کړئ.

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتيا کوله، يادونه يې وکړئ او ويې ستايې:

- هو، سمه ده! ته کولای شې د پزل تخته سرچپه کړې، څو ټولې ټوټې راولوېږي.
- آفرين، څنګه ښه کولای شې د پزل ټوټې سره بيلې کړې!

# ۳۳ ب د پزل ټوټې بیرته ځای پر ځای کول



ماشوم مو څه زده کوي؟

- له یو بل سره د تړاو درلودونکو اشکالو موندل – دا کار د ماشوم د ذهن د ودې له پاره ښه دی
- په هدفمنه توګه لاسونو او ګوتو ته حرکت ورکول
- د غټې ګوتې او شهادت د ګوتې همغږي حرکات
- مختلفو اشکالو، رنګونو او انځورونو ته په دقت سره کتل

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- که ماشوم مو یو کلن دی — یو پزل چې ټوټې یې تکمه لرونکي دستګیر لري
- که ماشوم مو تر دې لوی دی — په لومړي سر کې یو پزل چې څلور ټوټې ولري

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- له ماشوم سره مو د هغه انځور په هکله خبرې وکړئ چې د پزل پر مخ لیدل کیږي.
- د پزل دوه ټوټې سره بیلې کړئ.
- ماشوم ته مو د پزل د دوو ټوټو بیرته یوځای کیدل وروښیوئ، د دوو ټوټو د وصل کیدو دقیق ځای ولټوئ، ټوټې تر هغه وخته تاو راتاو او ځای پر ځای کړئ چې له یو بل سره ونښلي.
- له ماشوم مو وغواړئ چې یوه ټوټه په خپل ځای کې کیږدي (که یې ونه شو کړی، ورسره مرسته وکړئ څو وتوانیږي).
- له ماشوم سره مو د لاس په حرکتونو او کلماتو له لارې مرسته وکړئ، مثلا (ټوټه تاو راتاو کړه، لږه ډیره یې تاو کړه، لږه یې شا لور ته تاو کړه، اوس سمه شوه!»
- که چیرې ماشوم مو د ټوټو د وصل کیدو په برخه کې د نه موفقیتا له کبله عصباني کیږي، هغه آرامه کړئ او هغه ټوټه ورکړئ چې ځای پر ځای کول یې آسانه وي.

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یې وکړئ او ویې ستایې:

- آفرین! تا دا ټوټه بیخي پر سم ځای کښیوده.

# ۳۴ پاپې، پاپې



ماشوم مو څه زده کوي؟

- همکاري
- د بدن موازنه ساتل

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- د دې لوبې له پاره کومې خاصې وسیلې ته اړتیا نه لرئ

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**


- د ماشوم پښې پر خپلو پښو کېږدئ او یو لور او بل لور ته قدم ووهئ.
- کله تېز قدم واخلئ او کله په کراره او هم مهاله وروسته ووایې: «په کراره» او «تېز».
- په نوبت سره لوی او کوچني ګامونه واخلئ او دغه کلمې هم واضحه ووایې.
- د حیواناتو پر لاره تګ پیښې وکړئ: کله د هیلی په شان مزل وکړئ، د اس په شان په څلورو پښو مزل وکړئ، ...
- کله ماشوم داسې پر پښو ودروئ چې مخ یې ستاسې لور ته نه وي او بیا پر لاره ولاړ شئ
- هم مهال ورسره یو شعر ووایې، لکه:

> پا پې، پا پې
> یو قدم، دوه قدمه، لالالا
> یو قدم، دوه قدمه مخ پر وړاندې لاړ شه
> یوه قدم، دوه قدمه، سړک پر سر تلل زده کړه،
> څو چې ماشوم لوی شي.

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یې وکړئ او ویې ستایې:

- څومره لوی ګامونه اخیستی شي! تېز تېز ګامونه هم اخیستی شي! آفرین، ډېر ښه شاته هم تللی شې!

# ۳۵ سریښنول یا نښلول



ماشوم مو څه زده کوي؟

- د لاسونو د حرکتونو تمرین
- د لاسونو او سترګو همغږي
- له قلمي سریښ څخه استفاده
- د لامسه حس غښتلي کیدل

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- د لاندې غوړولو له پاره یو اخبار
- داسې یو کاغذ چې پارچه، پارچه کیدی شي
- یو تخته کلک کاغذ
- یو قلمي سریښ

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- ماشوم ته وسایل وښایې او نومونه یې ورته واخلئ.
- له ماشوم مو وغواړئ چې کاغذ څیرې کړي.
- د قلمي سریښ څخه د استفادې چل مو ماشوم ته وښیوئ.
- له ماشوم مو غوښتنه وکړئ سریښ د کاغذ په ټوټو ووهي.
- د کاغذ هغه ټوټې چې پرې سریښ وهل شوی له ماشوم سره په ګډه په کلک کاغذ باندې ونښلوئ او د دې کارونو په هکله ورسره خبرې وکړئ.

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یې وکړئ او ویې ستایئ:

- څه ښه کاغذ ټوټه کولی شې! څومره قوي فشار ورکولی شې! شاباسې، دا پارچه دې ډیره ښه نښلولې ده!

# ۳۶ د کوچني توپ پو کول



ماشوم مو څه زده کوي؟

- د تنفس آگاهانه درک کول
- په خپله ساه کښلو باندې د یوه کار تر سره کول
- د خولې شا او خوا عضلاتو تمرین، چې له ماشوم سره په سمو خبرو کولو کې مرسته کوي
- په آگاهانه ډول شونډو او ژبې ته حرکت ورکول
- په ګډه د یوه کار تر سره کول، له نورو سره لوبې کول

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- د پنګ پانګ یو توپ یا د پنبې یوه کلوله
- د امکان په صورت کې دوه دانې نیچې
- د امکان په صورته کې یوه آئینه

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- ماشوم ته کوچنی توپ ورکړئ څو ورسره بلد شي، هغه وګوري او لمس یې کړي.
- ماشوم ته مو ووایې چې په توپ ورسره په ګډه د څه کولو نیت لرئ.
- کوچنی توپ پر میز باندې د ماشوم لور ته پو کړئ.
- له ماشوم مو وغواړئ چې هغه هم توپ پو کړي.
- که چیرته بریالي وئ، یو بل ته په توپ پو کولو سره ادامه ورکړئ.
- له نیچې څخه په استفادې سره هم کولی شئ د یو او بل پر وړاندې توپ پو کړئ.
- د پو کولو پر مهال آئیني ته وګورئ.

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یې وکړئ او ویې ستایې:

- آفرین، څومره قوي پو کولی شي!
- څومره ښه، توپ دې څومره لرې پو کړ!

# ۳۷ د سودا اخیستلو تمثیل



ماشوم مو څه زده کوي؟
- د روزمره عادي وضعیت تمثیل
- نوي لغتونه او جملې

څه شي ته اړتیا لرئ؟
- یوه خلته یا کڅوړه
- د شیدو خالي قوطی، پلاستیکي ګیلاسونه، کوچني قوطۍ
- د پیسو زړه بټوه یا بکسک
- د پیسو پر ځای له تکمو، پلاستیکي پیسو او یا هم له سنډ څخه استفاده وشي

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- هغه شیان چې ګواکې اخلئ یې، ماشوم ته مو ورکړئ.
- پخپله خلته او پیسې راواخلئ او ماشوم مو سودا اخیستلو لوبې ته راوبلئ: «سلام، غواړم له تا یو څو شیان واخلم. کولی شئ یو لیتر شیدې راکړې؟»
- که لازمه وه له ماشوم سره مو مرسته وکړئ چې د پلورونکي نقش ولوبوي: «اوس یو لیتر شیدې راکړه او ووایه»: «یوه یورو کیږي! مننه».
- تاسو کولی شئ نور شیان هم راونیسئ او د پیسو تر ورکولو وروسته هغه په خلته کې واچوئ.
- د زیاتو خبرو کوونکي مشتري نقش ولوبوئ او هر جنس چې رانیسئ په هکله یې خبرې وکړئ.
- خپل نقشونه بدل کړئ، ښایي ماشوم مو وغواړي چې یو ځل د مشتري نقش ولوبوي.

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یې وکړئ او ویې ستایئ:
- آفرین، څه ښه سودا اخیستلی شې!
- ته یو ډېر ښه دوکاندار یې!
- تا ډېر شیان وپلورل!

# ۳۸ په ګډه د لوبو سامان راټولول



ماشوم مو څه زده کوي؟

- ګډ مشغولیت یا بوختیا
- د سترګو او لاسونو همغږي
- خپل شا او خوا د نظم ساتل

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- د لوبو د سامان له پاره ځو کارتنه
- هر لوري ته د لوبو خپور سامان

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- د لوبو د سامان کارتن مو ماشوم ته ورکړئ او وګورئ چې ورسره څه کوي.
- ماشوم ته مو ووایئ چې دا د لوبو د سامان کارتن دی او اوس غواړئ چې د لوبو ټول سامان د هغې دننه راټول او کیږدئ.
- د لوبو یو ډول سامانونه لکه د لېګو یا دوپلو مهرې ماشوم ته ورکړئ او ترې وغواړئ چې په یوه کارتن کې یې کیږدي.
- تر شپږ کلنۍ کم سنه ماشومان معمولا د دې کار له پاره مرستې ته اړتیا لري.
- د نورو یو ډول لوبو له پاره یو بل کارتن ځانګړی کړئ.

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یې وکړئ او ویې ستایئ:

- موټرې په کوم کارتن کې کیږدو؟ په دې کارتن کې؟ ډېر ښه نظر دی! همداسې کووا آفرین، شیان ځومره ښه راټولوئ!
- د لوبو سامان دې ځومره ښه راټولولی او منظم کیښودلی شي!

# ۳۹ هُپ، هُپ، هُپ – زما اس دی ډیر چابک



ماشوم مو څه زده کوي؟
- په ګډه لوبې کول
- سندره او د ژبې او کلمو ریتم

څه شي ته اړتیا لرئ؟
- د دې لوبې له پاره کومې خاصې وسیلې ته اړتیه نه شته.

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- ماشوم مو په زنګونونو کینوئ او دواړو زنګونو ته په حرکت ورکولو سره هغې کښته او پورته کړئ، او ووایې: «د اس سپرلی دې خوښیږي؟»
- تر بغل لاندې ماشوم ټینګ ونیسئ.
- دواړه زنګونونه په یوه وخت کښته او پورته کړئ او کله مو سرعت ګړندی کړئ او کله ورو: «هُپ، هُپ، هُپ – زما اس دی ډیر چابک!»
- د وروستیو کلمو په ویلو سره ماشوم پورته کړئ.
- بیا ژر ماشوم بیرته د زنګونو په سر کینوئ.
- له دې سره هم مهال کولی شې داسې یوه سندره یا شعر ورته ووایې:

هُپ، هُپ، هُپ – زما اس دی ډیر چابک!
په غرو رغو ورشه
لارو کوڅو ورشه
پام چې زخمي نه شي
په شنو درو ورشه
هُپ، هُپ، هُپ – زما اس دی ډیر چابک!

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یې وکړئ او ویې ستایې:
- ښومره ښه کولی شې چې ځان ټینګ ونیسې!
- آفرین، څومره ښه اس څغلولی شې!

# ۴۰ د رنګينې مصنوعي خټې سره لوبې



ماشوم مو څه زده کوي؟

- په يوه نا آشنا ډول احساسول او د ګوتو خوځول
- ماشوم له نوو موادو سره آشنا کيږي چې پخپله ورته شکل ورکولی شي

څه شي ته اړتيا لرئ؟

- يو اندازه رنګينه مصنوعي خټه چې يو رنګ ولري – وروسته بيا په څو رنګونو کې
- د هوارولو له پاره يو شی، د مثال په ډول يو کلک کاغذ او يا د پلاستيکي لوښو سيټ


**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- رنګه مصنوعي خټه مو ماشوم ته ورکړئ چې ورسره بلد شي.
- پخپله يو اندازه مصنوعي خټه راوخلئ او هغي ته يو شکل ورکړئ، د بيلګې په توګه يو هواره کيک، يو اوږد مار، مکروني او يا هم کوچني توپ ترې جوړ کړئ.
- دې ته پام وکړئ چې ماشوم مو له مصنوعي خټې سره څه کوي او په اړه يې څه ووايې، مثلاً: «ډيرې کوچنۍ ټوټې چې دې اخيستي دي، اوس يې يو ځای کړه، آفرين!»
- ماشوم ته مو وښيوئ چې پخپله ګوته کولی شي مصنوعي خټه سوری، سوری کړي.
- هغه ته زده کړئ چې د قاشق په دسته او يا په خپل نوک څنګه کولای شئ مصنوعی خټه کې کرښې وباسئ.

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتيا کوله، يادونه يې وکړئ او ويې ستايې:

- په مصنوعي خټه څومره ښې لوبې کولی شې!
- څومره ښايسته توپ/مار/... جوړولی شې!

# ۴۱ د اورګاډي لوبه



ماشوم مو څه زده کوي؟

- په ګډه د یوه کار تر سره کول: دا په ګډه د کار کولو د تمرین له پاره مهم دی.
- تمثیل؛ دا د تخیل د قوې د غښتلتیا او په آزادنه ډول د خپلو امکاناتو ازمویلو له پاره ګټور دی.

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- یوه لور او بل لور ته پوره ځای

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- ماشوم مو په غیږ کې ونیسئ / په هغه صورت کې چې ۲ یا ۳ کلن وي، هغه پخپلو پښو ودروئ او ترې وغواړئ چې تاسو له شا ټینګ ونیسي.
- حرکت وکړئ او له ماشوم مو وپوښتئ چې غواړي د اورګاډي لوبه ترسره کړي: «غوږ کیږده: چُوک، چوک، چوک، ...»
- سرعت ګړندی کړئ، د اورګاډي په څیر چې لومړی ورو حرکت کوي او بیا وروسته تیزیږي.
- کله د اورګاډي په شان غږ وباسئ: «تووو، توتووووت!».
- یو ځل پریږدئ چې ماشوم مو مخکې شي او د اورګاډي د انجن نقش ولوبوي، په ګولایي کې راتاو شي او شپیلاق ووهي.
- په دې ترڅ کې کولی شئ د اورګاډي په هکله یوه مناسبه سندره ووایاست. د بیلګې په توګه:

> تووووت توت تووووت، اورګاډی روان دی، هر څوک چې تلل غواړي، شاته دې راوخیژي.
> یوازې تګ مې نه خوښیږي، نو ځکه... (دلته مو د ماشوم نوم واخلئ) له ځان سره بیایم.

- د دې کار له پاره کولای شئ یو په بل پسې چوکۍ کتار کړئ.

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یې وکړئ او ویې ستایئ:

- ښکه ښه د اورګاډي په شان مزل کولی شي!

# ۴۲ په مهرو یا مریو کې تار اچول



ماشوم مو څه زده کوي؟
- د لاسونو دقیق کنټرول
- د لاسونو او سترګو همغږي

څه شي ته اړتیا لرئ؟
- لویې مهرې یا مرۍ، رشمه یا سنډي تار، تار یا د بوټ بند

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- پرېږدئ چې ماشوم مو رشمې او مریو سره لوبې وکړي.
- اوله مهره راواخلئ او د منځ له سوري څخه یې تار تېر کړئ او سر یې کلک ونیسئ.
- ماشوم ته مو وښیوئ چې څنګه کولی شي د مهرې یا مریو د سوري له منځه تار تېر کړئ.
- د تار بل سر پورته ونیسئ، په داسې ډول چې مرۍ یو په بل پسې کښته وښويږي.
- له ماشوم څخه مو وغواړئ یوه مهره یا مرۍ په دغه تار کې واچوي.
- اوس مو له ماشوم وغواړئ چې پخپله تار کلک ونیسي او مهرې په کې واچوي.

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یې وکړئ او ویې ستایې:
- تار دې په لاس کې ډېر ښه، کلک ونیو!
- په تار کې څومره ښې مرۍ اچولې شي!

# ۴۳ سرکونډۍ وهل



ماشوم مو څه زده کوي؟

- پر بدن تسلط
- هدفمن حرکتونه

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- نرم فرش ته

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- که چیرې مو د بدن نرمښت ښه دی او علاقه لرئ، کولای شئ په نرم فرش باندې سرکونډۍ ووهئ.
- پرېږدئ چې ماشوم مو په ملا ټیټ شي او په دوو لاسونو پر ځمکه تکیه وکړي.
- له ماشوم سره مرسته وکړئ چې پر ځمکه خپل سر د دوو لاسونو په منځ کې کېږدي او تاسو یې په یوه لاس ښټ کلک ونیسئ.
- په بل لاس مو هغه د لګن خاسرې په برخه کې پورته کړئ او مرسته ورسره وکړئ، څو سرکونډۍ ووهي.
- پرېږدئ چې ماشوم پخپله ځان وازمویې، تاسو ورسره یوازې لږه مرسته وکړئ.
- که چیرې لا تر اوسه مو ماشوم له دې سره علاقه نه لري، له هغه سره یوه بله ساده لوبه وکړئ: مثلاً یوه سندره ووایې او په پای کې پر ځمکه څملئ او پر خپل محور په اصطلاح ورغړئ.

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یې وکړئ او ویې ستایئ:

- څومره ښه رغړې!
- آفرین، څومره ښه سرکونډۍ وهلی شې!

# ۴۴ له ګوتو سره لوبې کول



ماشوم مو څه زده کوي؟

- ښه دقت کول او کتل
- ریتم او د ژبې او لغتونو غږ: دا کار د ژبې د زده کولو له پاره یو ښه چمتووالی دی.

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- د امکان په صورت کې یو توش قلم او یا رنګه پنسل چې څوکه یې لمده شوې وي

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- تاسو کولی شئ څیرې د ګوتو په سرونو یا نوکانو نقاشتي کړئ.
- پریږدئ چې ماشوم مو له ګوتو سره لوبې وکړي، په همدې وخت کې ورته د بیلګې په توګه لاندې کیسه وکړئ:

> پنځه کسه ځنګل ته ولاړل، چې یوه سوی ونیسي.
> لومړی کس چې د بیلر په شان چاق وو، په کراره یې ویل: «سوی چیرې ده؟»
> دوهم غږ وکړ: «هغلته منډه وهي!»
> دریم کس چې اوږد قد یې لاره او ډیر وارخطا وو، په ژړا یې پیل وکړ او ویې ویل: «زه یې نه وینم!»
> څلورم کس وویل: «دا احمقانه کار دی، زه بیرته کورته ځم!»
> پنځم نفر که څه هم تر ټولو وړوکی وو او چا پرې باور نه کاوه، وکولای شول سوی ونیسي او کورته یې یوسي.
> هماغه وو چې ټولو خلکو وخندل: «هه هه هه هه!»

- که چیرې د ګوتو په هکله کومه بله سندره، شعر یا کیسه په یاد لرئ هغه وواياست.
- که چیرې مو ماشوم یو کلن یا دوه کلن دی، کولای شئ د شعر یا سندرې په وخت د هغه ګوتې په نوبت کلکې ونیسئ.

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یې وکړئ او ویې ستایئ:

- هو، سمه ده، دا ستا غټه ګوته ده!

Kommunale Integrationszentren NRW

ISO 639-1: ps

# ۴۵ انځوریز کتابونه



ماشوم مو څه زده کوي؟

- انځورونو ته کتل
- د کیسي ویلو په وخت غوږ کینودل: په دي ډول ماشوم ژبه زده کوي.
- له انځورونو سره عادت کیدل

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- یو انځوریز کتاب

**څرنګه کولای شئ لوبي وکړئ؟**

- کتاب مو ماشوم ته په لاس کي ورکړئ، او وګورئ چي څه پري کوي او په دي اړه ورته څه وواياست.
- په کتاب کي د لیدل کیدونکو انځورونو په هکله په مورنی ژبه معلومات ورکړئ او په عین وخت کي هغه انځور ته اشاره وکړئ چي په هکله یي خبري کوئ.
- پريږدئ چي ماشوم مو پخپله د کتاب پاڼي واړوي.
- که چیري ماشوم مو کوم ټکی سم تلفظ نه کړ، هغه ټکی بیا په یوه بشپړه جمله کي تکرار کړئ. د بیلګي په توګه که چیري ماشوم مو د "سوی" پر ځای ووایي "وی"، نو تاسو هغه وخت بیا ووایي: «هو، دا یوه "سوی" ده!»

کله چي مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یي وکړئ او ویي ستایي:

- له تاسره د انځورونو لیدل ډیر خوند کوي!
- آفرین، عکسونه څومره ښه تشریح کوي!

# ۴۶ د اوبو په رنګ نقاشي



ماشوم مو څه زده کوي؟

- هغه د لاسونو حرکتونه تمرینوي.
- د لاسونو او سترګو همغږي؛ دا په راتلونکي کې د لیکلو له پاره مهمه زده کړه ده.
- د څه ویلو د وړتیا غښتلي کیدل

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- د نقاشۍ یو پلن او هوار برس او جذبونکی کاغذ (د کاغذ یوه لویه پاڼه، د دیوال کاغذ رول یا د دیوال کاغذ پاتي شوني)
- په یوه هوار لوښي کې (چې په آسانۍ سره چپه نه شي) دوه د اوبو رنګونه
- یو لوند سفنج
- د هوارولو له پاره یوه لویه مشمع ټوټه یا لویه پلاستکي کڅوړه چې قیچي شوي وي، یوه لویه پلاستکي کڅوړه، یو زوړ کمیس او یا یوه زړه لمنه د چیني یا پیش بند په توګه

**څرنګه کولای شئ لوبي وکړئ؟**

- پیشبند د ماشوم پر سینه وتړئ او هغه ته ووایي چې اوس دواړه د اوبو په رنګونو انځورګري یا نقاشي کوئ (په همدې وخت کې د رنګونو نومونه واخلئ).
- کاغذ د کارولو له پاره په هواره شوي ټوټه کیږدئ، او په سفنج باندي يي ښه نم کړئ.
- د نقاشی برس مو ماشوم ته ورکړئ او د رنګ لوښی ورته وښیوئ (ته کولی شي په دې رنګ نقاشي وکړي).
- په لومړي سر کې ماشوم کولی شي په رنګ کې خپله ګوته یا لاس دننه کړي او د خپلې ګوتې/لاس نقش د کاغذ پر مخ پرېږدي.
- ماشوم ته مو وښیوئ چې برس څرنګه د رنګ په لوښي کې دننه کولی شي.
- هغه ته وښیوئ چې یو ټکی یا کرښه څرنګه د کاغذ پر مخ نقاشي کیدی شي.
- له ماشوم سره مو په ګډه وګورئ چې رنګونه څرنګه د کاغذ پر مخ خپرېږي.
- تاسو خپله هم نقاشي وکړئ او ماشوم هم دې ته وهڅوئ چې ستاسوي پیروي وکړي.
- تاسو کولی شئ له دوهم رنګه هم استفاده وکړئ (د رنګ نوم واخلئ).

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه يي وکړئ او ویې ستایې:

- شاباسي، ته ډیره ښه نقاشي کولی شي!

# ۴۷ انځور لرونکي لوتو لوبه



ماشوم مو څه زده کوي؟

- د لوبو د قواعدو په رعایت کولو سره په ګډه لوبې کول
- د نوو لغتونو او اصطلاحاتو زده کول
- توپیر او مطابقت یا جوړه کیدل
- د انځورنو تشخیص

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- د لوتو انځور لرونکي لوبه

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- له ماشوم سره مو یو ځای انځورونه وګورئ او د هغه په هکله معلومات ورکړئ.
- هڅه وکړئ او دا پیدا کړئ چې کوم انځورونه د یو او بل اړوند دي او ولې.
- تاسو او ماشوم مو کولی شئ هر یو د ځان له پاره د لوبو یوه لوحه راواخلئ.
- یو انځور لرونکی کارت راواخلئ او د لوبې په لوحه کې یې پر هماغه انځور کیږدئ چې ستاسو د کارت له انځور سره یو ډول وي. که دغه ډول انځور مو د لوبو په لوحه کې ونه لید، کارت غاړې ته کیږدئ.
- ټول کارتونه داسې کیږدئ چې انځورونه یې د ځمکې لور ته وي.
- اوس کارتونه په ترتیب سره راپورته کړئ او د لوبې پر لوحه یې پر خپل مناسب ځای کیږدئ.

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یې وکړئ او ویې ستایې:

- ډیر ښه دې وپیژاند: دا چوکۍ ستا د لوبې په لوحې پورې مربوطیږي!

# ۴۸ یو وار حس کول



ماشوم مو څه زده کوي؟

- په خپلو لاسونو د یوه شي ښه حس کول
- دا تجربه ترلاسه کوي چي په لمس کولو سره څه شی حس کوي

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- یو څو شیان چي ماشوم له هغي سره آشنایي ولري:
- یخ / ګرم شیان
- نرم / کلک شیان
- اوبلن یا ملایم / جامد شیان

**څرنګه کولای شئ لوبي وکړئ؟**

- پریږدئ چي ماشوم مو یو څل ټول شیان لمس کړي.
- د شیانو په هکله معلومات ورکړئ چي څرنګه حس کیږي: نرم یا کلک، آوار یا زیږ، ګرم یا یخ، سپک یا درونډ؟
- اوس تاسو او ماشوم خپل لاسونه تر میز لاندي کړئ.
- تر میز لاندي له دغو شیانو یو شی مو ماشوم ته په لاس کي ورکړئ.
- له هغه پوښتنه وکړئ چي دغه شی څه ډول احساسیږي.
- اوس مو د ماشوم نوبت دی چي تر میز لاندي یو شی تاسو ته په لاس کي درکړي او تاسو خپل احساس ووایي.
- لوبه په همدي ډول په نوبت سره ادامه مومي.

کله چي مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یي وکړئ او ویي ستایي:

- آفرین، څومره ښه دي ټول شیان حس کړل!
- هو، سمه ده، تیږه یخه ده!
- هو، سمه ده، جاکټ نرم دی!

# ۴۹ د کالیو اغوستلو لوبه



ماشوم مو څه زده کوي؟

- د یوه بل کس په نقش کې لوبې کول
- د تخیل د قوې غښتلتیا

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- یوه نرمه ټوټه، مثلا یو شال یا پړونی

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- ماشوم مو پرېږدئ چې هر ډول له ټوټې یا شال سره لوبې کول غواړي، ویې کړي.
- له ماشوم مو پوښتنه وکړئ چې ټوټه څه ډول احساسیږي او کوم رنګ لري.
- په لومړي سر کې ورسره مرسته مه کوئ او پرېږدئ چې پخپله یې امتحان کړي او پوهه شي چې له ټوټې څخه د کوم کار له پاره استفاده کیدی شي.
- ماشوم ته مو وښیوئ چې له دغې ټوټې یا شال د بیلګې په توګه د پیش بند، د پړوني، خولئ، بانداژ او یا روی کش په توګه استفاده کیدای شي.
- له ماشوم سره مو مرسته وکړئ څو ټوټه راکاږي او غوټه ورکړي.
- پرېږدئ چې ماشوم ځان په آینه کې ووینې.
- که چیرې ماشوم له دغې ټوټې د پیشبند په توګه استفاده وکړه، نو کولی شئ داسې وښیوئ چې ګنې آشپزي کوي او ترې وپوښتئ چې څه شی پخول غواړي.

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یې وکړئ او ویې ستایې:

- ښه فکر دې کړی، اوس دا شال یو روی کش دی!

# ۵۰ د پلاستیکي ګیلاسونو یو پر بل کېښودل



ماشوم مو څه زده کوي؟

- په هدفمنه توګه د لاسونو او پښو خوځول
- د لاسونو او سترګو همغږي
- د لغتونو معنی درک کول: د پاسه، دننه، ځنګ ته، شاته، مخې ته
- د رنګونو تشخیص او د هغې د نومو زده کول

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- بیلا بیل پلاستیکي ګیلاسونه (د لوبو) / له لرګي یا پلاستیک څخه جوړې هغه نانځکي چې یوه په بله کې کښیودل کیږي (ماتریوشکا)

**څرنګه کولای شئ لوبي وکړئ؟**

- وګورئ چې ماشوم مو له ګیلاسونو سره څه ډول لوبې کوي او د هغې په هکله څه وو‌ایي.
- اوس له خپل ماشوم سره یو ځای ګیلاسونه یو بل د پاسه کیږدئ. له دې سره هم مهال "د پاسه" پر کلمې ټینګار وکړئ.
- اوس مو له ماشو مه وغواړئ چې ګیلاسونه یو بل د پاسه کیږدي. که یې اوس هم نه شو کولی تاسو دغه کار بیا تکرار کړئ.
- هغه وخت چې ماشوم مو لوبو ته علاقه پیدا کړه، بیا له ګیلاسونو سره لوبه په دې ټکو سره "دننه"، "لاندې"، "څنګ ته" او یا "شاته" مخې ته یوسئ.
- په هغه صورت کې چې ماشوم مو یوازې لوبې کول غواړي، په خپل حال یې پریږدئ. خو له دې سره سم تل د هغه څه په هکله چې هغه یې کوي څه ووایې: «وینې، تا سور ګیلاس د ژیړ ګیلاس دننه کیښود».
- تل د رنګونو نمونه واخلئ، هغه وخت مو ماشوم هم دغه صفتونه زده کولی شي.

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یې وکړئ او ویې ستایې:

- ته د یو بل دپاسه په ښه توګه ګیلاسونه ږدې!
- شاباسې، زه اوس د یو بل تر څنګ دا ګیلاسونه ږدم، ته یې هم کولی شې؟

# ۵۱ د کور په کارونو کې مرسته



ماشوم مو څه زده کوي؟

- پر ځان باور لرل
- ځانبسیانه یا په مستقل ډول عمل کول
- د دې احساس رامنځ ته کېدل چې پخپله هم یو کار کولی شي

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- د بیلګې په توګه قیتکونه چې په تناب کې پرې کالي بندیږي او همداشان لامده کالي، اخیستل شوې سودا چې باید ځای پر ځای شي، کچالو چې باید سپین شي، پلاستیکي ګیلاسونه چې باید پریمنځل شي.

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- فکر و کړئ چې په کومو کارونو کې مو ماشوم شریک کړئ.
- فکر وکړئ چې ماشوم په کوم یوه وخت کولای شي ستاسو لاس نیوی وکړي، د بیلګې په توګه اخیستل شوي اجناس له کڅوړې یا خلتې راوباسي او ځای پر ځای یې کړي، قیتکونه تاسي ته په لاس کې درکړي څو په هغې لامده کالي راځوړند کړئ، پوست شوي کچالو په دیګ کې واچوي، د یوې کاسه دننه مواد په قاشق ولړي...
- کولای شئ له ماشوم مو پوښتنه وکړئ: «غواړې له ما سره مرسته وکړې؟»، «د کالیو قیتکونه ما ته راکوې؟»
- له ماشوم سره مو یو ځای د ډوډۍ خوړولو میز تیار کړئ.
- هغه کارونه چې ترسره کوئ یې له ماشوم سره پرې خبرې وکړئ: «له اخیستل شوو شیانو سره څه کوو؟»، «ولې کالي پر تناب ځړوو؟»

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یې وکړئ او ویې ستایئ:

- تا له ماسره ډېره مرسته وکړه، ډېره مننه!

# ۵۲ یو شی وینم چې ته یې نهویني



ماشوم مو څه زده کوي؟

- په دقت سره کتل
- د رنګونو توپیر
- نوي لغتونه، لکه د رنګونو او شیانو نومونه
- د قواعدو د رعایت کولو له مخې په ګډه لوبې

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- د دې کار له پاره کومې ځانګړې وسیلې ته اړتیا نه شته.

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- له ماشوم مو غوښتنه وکړئ چې په کوټه کې ټول شیان چې خاص رنګ لري تاسو ته وښیې، په دې ډول پوهیږئ چې ماشوم له کومو رنګونو سره آشنایي لري او له کومو سره نه.
- په کوټه کې یو شي چې سور رنګ لري، په نظر کې ونیسئ او ماشومو ته مو ووایې: «زه یو شی وینم چې ته یې نه وینې او رنګ یې سور دی.»
- اوس پریږدئ چې ماشوم مو تلاښ وکړي او حدس ووهي چې تاسو څه شی په پام کې نیولی دی. کله چې مو ماشوم د داسې شي نوم واخیست چې ستاسو له خوا په نظر کې نیول شوي شي ته نژدې وو نو ووایاست «تود». خو که ځواب ستاسو له خوا په نظر کې نیول شوي شي څخه ډېر لیرې وو نو بیا ووایې چې: «یخ».
- اوس د ماشوم نوبت دی چې یو شی په نظر کې ونیسي چې خاص رنګ لري او تاسو یې باید په هکله حدس ووهئ.
- دا ځل یو داسې شی انتخاب کړې چې له خاصو موادو جوړ وي، لکه لرګی او یا ښیښه: «یو شی وینم چې ته یې نه وینې او هغه له لرګي څخه جوړ دی.»
- اوس مو ماشوم کولای شي وښیې او یا ووایې چې څه شی مو په نظر کې نیولی دی.

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یې وکړئ او ویې ستایې:

- تود! کابو نژدې یې!
- آفرین، څه ښه دې وموند!

# ۵۳ د حافظې غښتلتيا (ميموري)



ماشوم مو څه زده کوي؟

- نوې لغتونه او اصطلاحات
- د توپيرونو او مشترکاتو تشخيصول
- يو شی حافظې ته سپارل
- د قواعدو د رعايت کولو له مخې په ګډه لوبې کول

څه شي ته اړتيا لرئ؟

- په لومړي سر کې د ميموري لوبې څلور جوړې، بيا وروسته ډير کارتونه

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- له ماشوم سره مو يو ځای کارتونه ووينئ او له هغه وپوښتئ چې د کارت په مخ د څه شي انځور ويني.
- کارتونه پر ځمکه داسې کيږدئ، چې انځورونه يې و نه ليدل شي (پړمخ) او تل د هغه کارتونو لټه وکړئ چې يو ډول وي او جوړه ترې جوړه شي.
- کله چې مو ماشوم د لوبې په قاعده پوهه شو، وګورئ چې د انځورونو تر منځ نور کوم ګډ مشترکات شته، او ولې (د بيلګې په ډول منه او آلوچه يوه مشترکه وجه لري، او هغه دا چې دواړه ميوې دي، څوکۍ او ميز له يو او بل سره اړه لري، ځکه دواړه فرنيچر دي).
- اوس د کارتونو انځور لرونکی مخ د ځمکې خوا ته پړمخې کيږدئ.
- له ماشوم سره مو مرسته وکړئ چې کارتونه سره يو ځل ګډ وکړي.
- اوس په ترتيب دوه کارته راواړوئ. که دواړو له يو او بل توپير لاره، بيرته يې په کتار کې سرچپه کيږدئ، او که يو ډول وو نو راپورته يې کړئ او څنګ ته يې کيږدئ.
- که چيرته يو کس دوه يو ډول کارتونه پيدا کړي(يعنې جوړه)، په هغه صورت کې حق لري چې دغه جوړه غاړه ته کيږدي او خپل نوبت ته په دوام ورکولو سره دوه نور کارتونه راواړوي.

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتيا کوله، يادونه يې وکړئ او ويې ستايې:

- هو، سمه ده، دا دواړه کارتونه جوړه دي!

# ۵۴ د باندې په شګو کې لوبې کول



ماشوم مو څه زده کوي؟

- شګه څه ډول احساسيږي او سړی پرې څه کولی شي
- له شګې يو شی جوړول
- خپل تخيل عملي کول

څه شي ته اړتيا لرئ؟

- کور ته څېرمه د لرګي داسې يو چوکاټ چې په کې شګه وي
- کور ته څېرمه، په حويلۍ او يا هم بالکن کې سپينه شګه
- يو کوچنی سطل چې په کې اوبه وي

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- ماشوم ته مو هاغه کالي وغواندئ که چټلې هم شي، کوم باک ونه لري.
- پرېږدئ چې ماشوم مو له شګو او اوبو سره لوبې وکړي (د ډېری ماشومانو خوښيږي چې پر شګه اوبه واړوي او يا هم برعکس کار وکړي).
- د سر په خوځولو او يا د تشويق په پار مو ماشوم ته توجه واړوئ.
- په دې هکله له ماشوم سره خبرې وکړئ چې شګه څرنګه احساسيږي (نمناکه، وچه، دانه دانه، ميده يا نرمه، ...)
- له ماشوم سره په ګډه له شګو يو شی جوړ کړی، مثلا د شګې يو کيک، يو لوړ غږ چې تونل ولري، ...
- په پای کې له ماشوم سره بيا هر څه له سره منظم کړئ، د بيلګې په ډول په يوې بيلچې سره پاشل شوې شګه بيرته د لرګي په چوکاټ کې واچوئ.

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتيا کوله، يادونه يې وکړئ او ويې ستايې:

- له شګې دې څومره ښايسته کيک جوړ کړ!

# ۵۵ د توپ رغړول او نښه نیول



ماشوم مو څه زده کوي؟

- د مټو، لاسونو او ګوتو د حرکاتو کنټرول
- د سترګو او لاسونو همغږي
- له توپ سره د لوبو مختلف امکانات
- په ګډه لوبې کول

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- یو نرم او سپک توپ

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- ماشوم ته مو توپ وښیوئ او د هغې د شکل، نرموالي او وزن په باره کې ورسره خبرې وکړئ.
- پریږدئ چې ماشوم مو وازمويي چې په توپ څه کولی شي.
- تاسو کولی شئ توپ د یو او بل پر لور وغورځوئ، ورغړوئ او یا يې په پښه ووهئ.
- په لومړي سر کې یو لوی هدف په نښه کړئ، د مثال په ډول دروازه. بیا وروسته کولای شئ کوچنی هدف وټاکئ، د څوکی د پښو تر منځ فاصله.
- که چیرې دې کار مو موفقیت درلود، بیا هغه وخت کولای شئ د میز یوه پښه، یا سپک شی چې ماتیږي نه، لکه یو پلاستیکي ګیلاس په نښه کړئ.

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه يې وکړئ او ویې ستایي:

- شاباسي، ته توپ ډیر ښه رغړولی شي او دقیقا هدف ولې!

Kommunale Integrationszentren NRW

ISO 639-1: ps

# ۵۶ ښه غوږ کیږده او پیدا یې کړه



ماشوم مو څه زده کوي؟

- په دقت سره غوږ کیښودل

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- یوه آرامه خونه، چې د تلویزون یا رادیو غږ په کې نه وي.
- یو ساعت (د آشپز خانې ساعت، زنګ لرونکی ساعت) او یا بله وسیله چې غږ وباسي

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- د ساعت غږ تقلید کړئ او له ماشوم سره مو یو ځای سندره ووایې. د بیلګې په توګه:

> غټ ساعتونه داسې غږ لري: ټیک – ټک، ټیک – ټک،
> کوچني ساعتونه داسې غږ لري: ټیکه ټکه – ټیکه – ټکه،
> کوچني جیبي ساعتونه: ټیکه – ټاکه، ټیکه – ټاکه، ټیک.

- له ماشوم مو وغواړئ چې سترګې پټې کړي او تاسو یو چیرې ساعت پټ کیږدئ.
- له ماشوم مو غواړئ چې په دقت سره د ساعت ټیک ټیک ته غوږ کیږدي او هغه ولټوي.
- که چیرې مو ماشوم غواړي کولای شي پخپله په یوه ځای کې ساعت پټ کیږدي او تاسو یې د موندلو هڅه وکړئ.

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یې وکړئ او ویې ستایې:

- دا ډیر ښه غوږ کیښود او ساعت دې پیدا کړ، آفرین!

# ۵۷ د کالیو د اغوستلو زده کول



ماشوم مو څه زده کوي؟

- په مستقل ډول یو کار تر سره کول، له خپل ځان سره مرسته کول
- هغه د لویدو احساس کوي او پخپله د څه کولو باور یې زیاتیږي.

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- مختلف کالي

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- له ماشوم سره مو د مختلفو کالیو د اغوستو تمرین وکړئ، مثلا تر لمبا وروسته (زیرپیراهنی / کمیس / جاکټ / جورابي / ...).
- د کالیو د تکمو او زنځیر تړل او پرانیستل، تمرین کړئ.
- یو جمپر چې زنځیر یې پرانیستل شوی وي داسې پر ځمکه واچوئ چې یخن یا غاړه یې ستاسي لور ته وي او هغه مخ چې تړل کیږي پاسني خوا ته وي.
- له ماشوم سره مو مرسته وکړئ چې خپل لاسونه په لستونو کې ننباسي او جمپر واغوندي.
- اوس جمپر له څنډې ونیسئ او لاندې خوا ته یې کش کړئ، څو ماشوم مو هغه سم وغواندي.
- تر هغه وخته تمرین وکړئ چې ماشوم ورسره علاقه وښیي.
- تر هغه وروسته جمپر په یوه داسې میز چې لوړ نه وي، کیږدئ.
- ماشوم ته مو په آرامۍ وښیوئ چې جمپر څنګه پرانیزي او وتړي.
- که چیرې ماشوم خپله هڅه وکړي او و نه توانیږي، تل یې تشویق کړئ. لږه مرسته ورسره وکړئ او تشویق ته مو ادامه ورکړئ: «یو بل وار هم کوښښ وکړه!».

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یې وکړئ او ویې ستایي:

- ډیر ښه دې واغوست، آفرین!

ISO 639-1: ps

# ۵۸ په خپل لاس جوړې شوې پزل



ماشوم مو څه زده کوي؟
- د لاسونو له عضلو او ګوتو څخه هدفمنه استفاده
- د لاسونو او سترګو همغږي
- د شکلونو په هکله فکر کول
- د انځورونو له ټوټو، یو بشپړ انځور جوړول

څه شي ته اړتیا لرئ؟
- یو انځور، یوه پاڼه او سریښ یا یو پست کارت
- د ماشومانو له پاره خاصه قیچي

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- د ماشوم د خوښې یو انځور مو انتخاب کړئ او په هکله یې ورسره خبرې وکړئ: «دلته څه شی وینې؟ ستا په نظر په دې عکس کې څه شی ښایسته دی؟»
- د کاغذ پر یوه څنډه سریښ ووهئ، او انځور هلته کلک سریښ کړئ.
- ماشوم ته مو تشریح کړې چې اوس د دې انځور په قیچي کولو سره یو پزل یا انځور لرونکې ټوټې چې سره یو ځای کیږي، جوړیږي.
- پریږدئ چې ماشومو مو سریښ شوی انځور په دوو برخو قیچي کړي. د اړتیا په صورت کې د هغه د لاسونو په نیولو او هدایت کولو سره یې مرسته وکړئ.
- پریږدئ چې ماشوم مو قطع شوې دواړه ټوټې له یو او بل جلا کړي.
- که چیرې ماشوم مو پر دې کار وتوانید، هغه وخت کولی شئ هره ټوټه یو ځل بیا دوه واري قیچي کړئ او ټولې څلور واړه ټوټې داسې کیږدئ چې یو بشپړ انځور ترې جوړ شي.
- که چیرې مو ماشوم ته د یو بل تر څنګ د دغو ټوټو ایښودل ګران وي، نو دغو ټوټو په څرخولو او یو بل تر څنګ د ایښودلو له لارې له هغه سره مرسته وکړئ.

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یې وکړئ او ویې ستایي:
- تا ډېر ښه وکولی شول چې د عکس ټوټې پر خپل ځای کیږدې! همداسې صحیح دی!

# ۵۹ له کتابه کیسه لوستل



ماشوم مو څه زده کوي؟

- نوي لغتونه
- له کلمو یا لغتونو جملې جوړول
- په دقت سره غوږ نیول
- له کتاب سره عادت کول

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- د ماشومانو یو انځوریز کتاب

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- له ماشوم سره مو یو ځای د کتاب انځورونه وګورئ او د هغې په هکله خبرې وکړئ.
- د کتاب ځیني برخې ولولئ او یا کیسه وکړئ او په عین وخت کې هغه انځورونو ته اشاره وکړئ چې په هکله یې کیسه وایې.
- د پوښتنو په مطرح کولو سره مو ماشوم دې ته وهڅوئ چې د کیسې په هکله فکر وکړي، د مثال په ډول: «اوس ... به څه کوي؟»، «اوس ... به چیرې ځي؟»، «اوس به څه کیږي؟»
- د نوو لغتونو معنی تشریح کړئ او د امکان په صورت کې د انځور له مخې یې ورته وښیوئ.
- کیسه په مختلفو غږونو ولولئ. مثلاً کله چې د یږ کیسه کوئ په غوریدلي غږ ووایې: «امممممم، څومره مزه دار شات! همدا شات غواړم!»
- کله چې مو کیسه پای ته ورسوله له ماشوم مو وغواړئ چې همدا کیسه درته وکړي. په عین وخت کې کولی شي د پوښتنو له لارې ورسره مرسته وکړئ: «... هلته یې څه وکړل؟»، «دلته څه پیښ شول؟»

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یې وکړئ او ویې ستایې:

- څومره ښایسته کیسه کوي! هو، ... همدا کار یې وکړ!

# ۶۰ د يوې دستکشې يا جورابې په واسطه کيسه کول



ماشوم مو څه زده کوي؟

- د خپل تخيل قوې څخه کار اخيستل
- د پوهيدو وړ جملو بيانول
- له نورو سره په ګډه فکر کول

څه شي ته اړتيا لرئ؟

- د ظرف پريمنځولو يوه دستکشه يا يوه جورابه

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- جورابه يا دستکشه په لاس کړئ (او يا له يوې واقعي نانځکي څخه استفاده وکړئ).
- له ګتې ګوتې او نورو څلورو ګوتو د يوې خولې شکل جوړ کړئ. اوس په دغه خولې خبرې وکړئ او يا پرې څه ونيسئ، داسې چې د لاس غټه ګوته او نورې څلور ګوتې بندې کړئ او پرانيزئ.
- داسې وښيوئ چې ګويا دغه لاسي نانځکه غواړي د ماشوم پر پزه يا مټ باندې خوله ولګوي: «غواړم تا وخورم... هپ!» (که چيرې دا کار مو د ماشوم خوښ شو بيا يې تکرار کړئ).
- لاسي نانځکه کولی شي له ماشوم سره مو يو مشکل شريک کړي، د مثال په ډول: «ما خپله خولی ورکه کړې ده، چيرې يې پيدا کړم؟ ... خو هلته نشته. اوس څه وکړم؟».
- هنر يې په دې کې دی چې ماشوم له دې خبرو سره داسې تر تأثير لاندې راشي چې د مشکل په هکله داسې واقعي خبرې رامنځ ته شي چې ماشوم مو له هغې سره بلد وي.
- دغه لوبه هغه مهال د ماشوم له پاره نوره هم جالبه کيږي، چې د لاسي نانځکی يا ګډی په خوځولو سره خپل غږ ته هم تغير ورکړئ.
- ماشوم مو هم پريږدئ چې له دستکشې او جورابې سره لوبې وکړي او لاسي نانځکي په واسطه له تاسو سره خبرې وکړي.

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتيا کوله، يادونه يې وکړئ او ويې ستايې:

- و دې ليدل، اوس دې خپله خولی پيدا کړه!
- آفرين، څومره ښه کولی شې له نانځکی سره خبرې وکړې!

# ۶۱ کوم شیان له یو بل سره اړه لري؟



ماشوم مو څه زده کوي؟
- په دقت سره کتل، او پرتله کول
- د حافظې د غښتلیا تمرین
- نوي لغتونه او عام اصطلاحات

څه شي ته اړتیا لرئ؟
- د کور ځیني سامان چې یو ډول وي، مثلا قاشق، د کالیو رنګه قیتکونه، مختلف تارونه، تکمي، ...

**څرنګه کولای شئ لوبي وکړئ؟**

- هغه مواد او شیان چې له یو بل سره اړه لري، ترتیب یې کړئ.
- د پوښتنو په مطرح کولو سره ماشوم خبرو کولو ته تشویق کړئ: «ده څه شي ... له پاره دي ته اړتیا لرو؟»
- ماشوم ته مو له دغو وسایلو سم کار اخیستل وښیوئ او نومونه یې واخلئ.
- له ماشوم مو وغواړئ چې وسایل ترتیب کړي (هغه شیان چې له یو بل سره اړه لري، د یو بل تر څنګ کیږدي). مثلاً د کالیو قیتکونه د رنګونو د ترتیب له مخې: سور له سور، ژیړ له ژیړ، زرغون له زرغون، سره؛
  قاشق پنجي او کاردونه د لوی والي او کوچینوالي د ترتیب له مخې
  قاشق او پنجې له یو بل بیلې کړي؛
  او د لرګي او فلزي قاشق له یو بل بیلې تنظیم کړي.
- له عامو اصطلاحاتو کار واخلئ:
  «موږ په **قاشق** او **پنجه** ډوډۍ خورو.»
  «سور او ژیړ د **رنګونو** نومونه دي.»
  «لرګی، پلاستیک او فلز هغه **مواد** دي چې شیان ترې جوړیږي.»

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یې وکړئ او ویې ستایې:
- هو، دا قیتک سور رنګ لري او هلته یې ځای دی!
- ته څومره ښه کولی شي شیان ترتیب کړي!

# ۶۲ په لېګو یا دوپلو لوبې کول



ماشوم مو څه زده کوي؟

- د لېګو یا دوپلو له وسایلو یو شی جوړول
- د خپل تخیل له قوي څخه کار اخیستل
- د سترګو او لاسونو همغږي

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- د لېګو او دوپلو داني

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- پرېږدئ چې ماشوم مو د لېګو او دوپلو له دانو سره آزادې لوبې وکړي.
- د ماشوم کار ته توجه او ورسره علاقه وښیوئ او په دې ډول هغه تشویق کړئ.
- ماشوم ته مو وښیوئ چې څه ډول وصل شوې داني له یو بل بېلې کړو او نوی شی ترې جوړ کړو. یوازې هغه وخت د خپل ماشوم سره مرسته وکړئ چې ونه توانیږي داني له یو او بل بیلې کړي.
- په هغه شي لوبې وکړئ چې ماشوم مو جوړ کړی دی.
- له ماشوم سره مو خبرې وکړئ او پوښتني ترې وکړئ: «دا یو کورک دی؟ آها، دا یوه کښتی ده! د کښتی کپتان یا چلونکی څوک دی؟ په دې کښتی کې کوم بل کارګر هم شته؟»

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یې وکړئ او ویې ستایې:

- ته داني ډېرې ښې وصل کولی شې!
- اوه، څومره لوړ برج دې جوړ کړی!

# ۶۳ د بدن غړي



ماشوم مو څه زده کوي؟

- د خپل بدن د غړو دنده
- د "بدن غړي" کلمه او د بدن هر غړی

څه شي ته اړتيا لرئ؟

- يوه آئينه
- يو انځور يا د ماشوم يو انځور
- د بدن د غړو په هکله يو کتاب

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- له ماشوم سره مو انځورونه ووينئ او ورته ووايې چې اوس غواړئ د بدن د غړو په هکله خبرې وکړئ.
- دې ته پام وکړئ چې ماشوم مو څه شي ته ګوري، هماغه شي يې ډيره توجه راخپله کړې ده. د هغې اړونده غړي نوم ورته ووايې.
- د بدن د غړو په هکله مو له ماشوم څخه پوښتنه وکړئ، د مثال په ډول «د بدن دا غړی څه نوم لري؟ همدا غړی ستا بدن کې په کوم ځای کې دی؟ ته هم يو ... لرې؟ خپل ... باندې څه کوي؟».
- د اړتيا په صورت کې له ماشوم سره مو مرسته وکړئ، چې د يوه ټکي يا يوې کلمې لومړی پېل په کراره ووايي.

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتيا کوله، يادونه يې وکړئ او ويې ستايې:

- هو، سمه ده، دا ښه ده. ستا ښه چيرې ده؟

# ۶۴ زما کورنۍ



ماشوم مو څه زده کوي؟

- هغه د خپلې کورنۍ د غړو نومونه زده کوي.
- د کورنۍ د غړو په هکله نوې لغتونه زده کوي.
- د کورنۍ له غړو سره بلدېږي

څه شي ته اړتیا لرئ؟

- د کورنۍ د غړو انځورنه
- د نقاشۍ کاغذ او رنګه قلم

**څرنګه کولای شئ لوبې وکړئ؟**

- انځورنه مو ماشوم ته وښیوئ او پرېږدئ چې حدس ووهي چې کوم کسان په کېویني. ښایي د کورنۍ هغه غړي په ګوته کړي چې پېژني یې.
- تاسو کولی شئ د عکسونو د ښودلو پر ځای، د کورنۍ غړي رسم کړئ. طبعا، حتمي نه ده نقاشي مو ډېره بې عیبه وي. د دې نقاشیو څخه په استفادې سره کولی شئ د کورنۍ په هکله خبرې وکړئ.
- پرېږدئ چې ماشوم مو هم نقاشي وکړي. ښایي ماشوم ځو منحني، یا مستقیم او یا هم ګډې وډې کرښې راکاږي، چې کیدای شي د یوه انسان په توګه وانګیرل شي.
- له عکسونو یا نقاشۍ څخه په استفادې سره، د کورنۍ د غړو په هکله څه ووایې: هغوی کوم کسان دي، چیرې او څنګه ژوند کوي، له تاسو (او ستاسې ماشوم سره) یې څه تجربه کړي دي، ...
- د کورنۍ اړیکو نومونه واخلئ: «نیا دې، زما مور ده؛ نجیب کاکا دې د پلار ورور دی، ...»
- له ماشوم مو وغواړئ چې په عکسونو کې ټول ماشومان، بیا ښځې او بیا نارینه تاسو ته در وښیې، ...

کله چې مو ماشوم په ښه شان ملتیا کوله، یادونه یې وکړئ او ویې ستایې:

- هو، سمه ده بابا دې، زما پلار دی.
- شاباسې، هغه دې څه ښه د عکس له مخې وپیژند!